$$P_2(3|-4) \Rightarrow \quad f(3) = 27a_3 + 9a_2 + 3a_1 + 1a_0 = -4$$

$$P_3\left(-\frac{1}{2}\middle|\frac{45}{8}\right) \Rightarrow \quad f\left(-\frac{1}{2}\right) = -\frac{1}{8}a_3 + \frac{1}{4}a_2 - \frac{1}{2}a_1 + 1a_0 = \frac{45}{8}$$

$$P_4\left(-\frac{3}{2}\middle|-\frac{77}{8}\right) \Rightarrow \quad f\left(-\frac{3}{2}\right) = -\frac{27}{8}a_3 + \frac{9}{4}a_2 - \frac{3}{2}a_1 + 1a_0 = -\frac{77}{8}$$

| $a_0$ | $a_1$ | $a_2$ | $a_3$ | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 1 | 1 | 6 | |
| 1 | 3 | 9 | 27 | −4 | |
| 1 | $-\frac{1}{2}$ | $\frac{1}{4}$ | $-\frac{1}{8}$ | $\frac{45}{8}$ | $\|\cdot 8$ |
| 1 | $-\frac{3}{2}$ | $\frac{9}{4}$ | $-\frac{27}{8}$ | $-\frac{77}{8}$ | $\|\cdot 8$ |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 6 | |
| 2 | 3 | 9 | 27 | −4 | II − I |
| 8 | −4 | 2 | −1 | 45 | III − 8·I |
| 8 | −12 | 18 | −27 | −77 | IV − 8·I |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 6 | |
| 0 | 2 | 8 | 26 | −10 | |
| 0 | −12 | −6 | −9 | −3 | III + 6·II |
| 0 | −20 | 10 | −35 | −125 | IV + 10·II |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 6 | |
| 0 | 2 | 8 | 26 | −10 | |
| 0 | 0 | 42 | 147 | −63 | \|: 21 |
| 0 | 0 | 90 | 225 | −225 | \|: 45 |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 6 | |
| 0 | 2 | 8 | 26 | −10 | |
| 0 | 0 | 2 | 7 | −3 | |
| 0 | 0 | 2 | 5 | −5 | IV − III |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 6 | |
| 0 | 2 | 8 | 26 | −10 | |
| 0 | 0 | 2 | 7 | −3 | |
| 0 | 0 | 0 | −2 | −2 | |

$\Rightarrow$

$$-2a_3 = -2 \Leftrightarrow \boxed{a_3 = 1}$$

$$2a_2 - 7a_3 = -3$$
$$\Leftrightarrow 2a_2 + 7 = -3 \mid -7$$
$$\Leftrightarrow 2a_2 = -10 \mid : 2 \Leftrightarrow \boxed{a_2 = -5}$$

$$2a_1 + 8a_2 + 26a_3 = -10$$
$$\Leftrightarrow 2a_1 - 40 + 26 = -10$$
$$\Leftrightarrow 2a_1 - 14 = -10 \mid +14$$
$$\Leftrightarrow 2a_1 = 4 \mid : 2 \Leftrightarrow \boxed{a_1 = 2}$$

$$a_0 + a_1 + a_2 + a_3 = 6$$
$$\Leftrightarrow a_0 + 2 - 5 + 1 = 6$$
$$\Leftrightarrow a_0 - 2 = 6 \mid +2 \Leftrightarrow \boxed{a_0 = 8}$$

$$\underline{\underline{f(x) = x^3 - 5x^2 + 2x + 8}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کاروني یا استعمال بیلګه۹ :

$$f(x) = a_3x^3 + a_2x^2 + a_1x + a_0$$

$$P_1\left(1 \mid -\frac{9}{2}\right) \Rightarrow \quad f(1) = 1a_3 + 1a_2 + 1a_1 + 1a_0 = -\frac{9}{2}$$

$$P_2\left(-1 \mid \frac{11}{2}\right) \Rightarrow \quad f(-1) = -1a_3 + 1a_2 - 1a_1 + 1a_0 = \frac{11}{2}$$

$$P_3\left(3 \mid -\frac{5}{2}\right) \Rightarrow \quad f(-3) = 27a_3 + 9a_2 + 3a_1 + 1a_0 = -\frac{5}{2}$$

$$P_4\left(-\frac{5}{2} \mid -8\right) \Rightarrow \quad f\left(-\frac{5}{2}\right) = -\frac{125}{8}a_3 + \frac{25}{4}a_2 - \frac{5}{2}a_1 + 1a_0 = -8$$

| $a_0$ | $a_1$ | $a_2$ | $a_3$ | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 1 | 1 | $-\frac{9}{2}$ | $\mid \cdot 8$ |
| 1 | −1 | 1 | −1 | $\frac{11}{2}$ | $\mid \cdot 8$ |
| 1 | 3 | 9 | 27 | $-\frac{5}{2}$ | $\mid \cdot 8$ |
| 1 | $-\frac{5}{2}$ | $\frac{25}{4}$ | $-\frac{125}{8}$ | −8 | $\mid \cdot 8$ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 8 | 8 | 8 | 8 | −36 | |
| 8 | −8 | 8 | −8 | 44 | II − I |
| 8 | 24 | 72 | 216 | −20 | III − I |
| 8 | −20 | 50 | −125 | −64 | IV − I |
| 8 | 8 | 8 | 8 | −36 | \|: 4 |
| 0 | −16 | 0 | −16 | 80 | \|: 4 |
| 0 | 16 | 64 | 208 | 16 | \|: 4 |
| 0 | −28 | 42 | −133 | −28 | \|: 7 |
| 2 | 2 | 2 | 2 | −9 | |
| 0 | −4 | 0 | −4 | 20 | |
| 0 | 4 | 16 | 52 | 4 | III + II |
| 0 | −4 | 6 | −19 | −4 | IV − II |
| 2 | 2 | 2 | 2 | −9 | |
| 0 | −4 | 0 | −4 | 20 | |
| 0 | 0 | 16 | 48 | 24 | \|: 8 |
| 0 | 0 | 6 | −15 | −24 | \|: 3 |

$\Rightarrow$

$$-11a_3 = -11 \mid : (-11)$$
$$\Leftrightarrow \boxed{a_3 = 1}$$

$$2a_2 + 6a_3 = 3$$
$$\Leftrightarrow 2a_2 + 6 = 3 \mid -6$$
$$\Leftrightarrow 2a_2 = -3 \mid : 2$$
$$\Leftrightarrow \boxed{a_2 = -\frac{3}{2}}$$

$$-4a_1 - 4a_3 = 20$$
$$\Leftrightarrow -4a_1 - 4 = 20 \mid +4$$
$$\Leftrightarrow -4a_1 = 24 \mid : (-4)$$
$$\Leftrightarrow \boxed{a_1 = -6}$$

$$2a_0 + 2a_1 + 2a_2 + 2a_3 = -9$$
$$\Leftrightarrow 2a_0 - 12 - 3 + 2 = -9$$
$$\Leftrightarrow 2a_0 - 13 = -9 \mid +13$$
$$\Leftrightarrow 2a_0 = 4 \mid : 2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کاروني يا استعمال بيلګه۱۰ :**

$$f(x) = a_3x^3 + a_2x^2 + a_1x + a_0$$

$$P_1(1|25) \Rightarrow \quad f(1) = 1a_3 + 1a_2 + 1a_1 + 1a_0 = 25$$
$$P_2(-1|-49) \Rightarrow \quad f(-1) = -1a_3 + 1a_2 - 1a_1 + 1a_0 = -49$$
$$P_3(3|27) \Rightarrow \quad f(3) = 27a_3 + 9a_2 + 3a_1 + 1a_0 = 27$$
$$P_4(5|5) \Rightarrow \quad f(5) = 125a_3 + 25a_2 + 5a_1 + 1a_0 = 5$$

| $a_0$ | $a_1$ | $a_2$ | $a_3$ | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 1 | 1 | 25 | |
| 1 | −1 | 1 | −1 | −49 | II − I |
| 1 | 3 | 9 | 27 | 27 | III − I |
| 1 | 5 | 25 | 125 | 5 | IV − I |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 25 | |
| 0 | −2 | 0 | −2 | −74 | |
| 0 | 2 | 8 | 26 | 2 | III + II |
| 0 | 4 | 24 | 124 | −20 | IV + 2·II |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 25 | |
| 0 | −2 | 0 | −2 | −74 | |
| 0 | 0 | 8 | 24 | −72 | |
| 0 | 0 | 24 | 120 | −168 | IV − 3·III |
| 1 | 1 | 1 | 1 | 25 | |
| 0 | −2 | 0 | −2 | −74 | |
| 0 | 0 | 8 | 24 | −72 | |
| 0 | 0 | 0 | 48 | 48 | |

$\Rightarrow$

$$48a_3 = 48 \Leftrightarrow \boxed{a_3 = 1}$$

$$8a_2 + 24a_3 = -72$$
$$\Leftrightarrow 8a_2 + 24 = -72 \mid -24$$
$$\Leftrightarrow 8a_2 = 96 \mid :8 \Leftrightarrow \boxed{a_2 = -12}$$

$$-2a_1 - 2a_3 = -74$$
$$\Leftrightarrow -2a_1 - 2 = -74 \mid +2$$
$$\Leftrightarrow -2a_1 = -72 \mid :(-2) \Leftrightarrow \boxed{a_1 = 36}$$

$$a_0 + a_1 + a_2 + a_3 = 25$$
$$\Leftrightarrow a_0 + 36 - 12 + 1 = 25$$
$$\Leftrightarrow a_0 + 25 = 25 \mid -25 \Leftrightarrow \boxed{a_0 = 0}$$

$$\underline{\underline{f(x) = x^3 - 12x^2 + 36x}}$$

**پوښتنې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| $\begin{vmatrix} x_1 + x_2 + 0x_3 = 28 \\ x_1 + 0x_2 + x_3 = 30 \\ 0x_1 + x_2 + x_3 = 32 \end{vmatrix} \Rightarrow L = \{13;15;17\}$ | $\begin{vmatrix} 2x_1 + 3x_2 + 0x_3 = 12 \\ 3x_1 + 0x_2 + 2x_3 = 11 \\ 0x_1 + 3x_2 + 4x_3 = 10 \end{vmatrix} \Rightarrow L = \{3;2;1\}$ |
| $\begin{vmatrix} x_1 + x_2 - x_3 = 17 \\ x_1 - x_2 + x_3 = 13 \\ -x_1 + x_2 + x_3 = 7 \end{vmatrix} \Rightarrow L = \{15;12;10\}$ | $\begin{vmatrix} -4x_1 + 3x_2 - 2x_3 = 8 \\ 5x_1 + 4x_2 - 6x_3 = -8 \\ -3x_1 + 2x_2 + 4x_3 = 19 \end{vmatrix} \Rightarrow L = \{-1;3;2,5\}$ |
| $\begin{vmatrix} x_1 + x_2 + x_3 = 9 \\ x_1 + 2x_2 + 4x_3 = 15 \\ x_1 + 3x_2 + 9x_3 = 23 \end{vmatrix} \Rightarrow L = \{5;3;1\}$ | $\begin{vmatrix} x_1 + x_2 + x_3 = 9 \\ x_1 + 2x_2 + 3x_3 = 14 \\ x_1 + 3x_2 + 6x_3 = 20 \end{vmatrix} \Rightarrow L = \{5;3;1\}$ |

$$\begin{vmatrix} x_1 + 3x_2 - 2x_3 + x_4 = -7 \\ -2x_1 + x_2 - 4x_3 - 5x_4 = -6 \\ x_1 - 3x_2 + x_3 = 6 \\ -3x_1 + 4x_2 - 6x_3 + 2x_4 = -21 \end{vmatrix} \Rightarrow \begin{array}{cccc|c} x_1 & x_2 & x_3 & x_4 & \\ \hline 1 & 3 & -2 & 1 & -7 \\ -2 & 1 & -4 & -5 & -6 \\ 1 & -3 & 1 & 0 & 6 \\ -3 & 4 & -6 & 2 & -21 \end{array} \Rightarrow L = \{1;-1;2;-1\}$$

$$\begin{vmatrix} -2x_1 + 3x_2 - 4x_3 + 2x_4 = 9 \\ 3x_1 + 4x_2 - 8x_3 + x_4 = -2 \\ x_1 - 6x_2 - x_3 + 3x_4 = 20 \\ x_4 = 5 \end{vmatrix} \Rightarrow \begin{array}{cccc|c} x_1 & x_2 & x_3 & x_4 & \\ \hline -2 & 3 & -4 & 2 & 9 \\ 3 & 4 & -8 & 1 & -2 \\ 1 & -6 & -1 & 3 & 20 \\ 0 & 0 & 0 & 1 & 5 \end{array} \Rightarrow L = \{-1;-1;0;5\}$$

د لاس ته راوړنې د کنترل له پاره دې ازمايښت وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هورنر- شيما Das Horner – Schema

د دې له پاره چې د جګودرجو ټولراشنلځيرونو يا که غواړئ توابعو ګراف وکښلای شو، بايد يو ارزښت جدول برابرکړو. دا به ډېر وخت اوځای ونيسي، چې د دې له پاره اړين ځيره ارزښتونه يا فنکشنارزښتونه وشميرو.

د هورنر – شيما دا شميرنې ډېرې ساده کوي.

بيلګه : دريمه درجه ټولراشنل فنکشن يا راشنل ځيرونه

$$f(x) = a_3x^3 + a_2x^2 + a_1x + a_0$$

د x د ډېرځله نوکانو بندولو له لاربېمنځ ته راځي:

$$f(x) = a_3x^3 + a_2x^2 + a_1x + a_0 = x\left[a_3x^2 + a_2x + a_1\right] + a_0 = \underbrace{x\underbrace{\left[x\left(\underbrace{a_3x + a_2}_{e_2}\right) + a_1\right]}_{e_4} + a_0}_{E}$$

که سرې غواړي چې د $x = x_1$ له پاره فنکشن ارزښت وشميري، نوکی دی شي سرې په لاندې ډول له دننه دباندې لورته مخ ته لاړ شي:

-- ګرد نوکان وشميري

--منځ لاس ته راوړنه ( ښه ليکنه به يې داسې وي: منځلاس –ته-راوړنه) د $x_1$ سره ځل کړي او $a_1$ ته يې ور زيات کړي

--لاس ته راوړنه د $x_1$ سره ځل کړي او $a_0$ ته يې ور زيات کړو

دا شميرنکارونې يا که غواړئ شميرنعمليې کيدی شي ځيره ډوله يا شيماتيکي داسې انځور کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



Allgemeines Schema: تولیزه بنه




بیلګه : $y = f(x) = x^3 + 3x^2 - 12x - 10$

د $x = 2$ له پاره دې د $y = f(2)$ ارزښت د هورنر – شیما له لارې وشمیرل شي.




نولاس ته راځي یا باورلری: $y = f(2) = \underline{-14}$

د یوه دریمي درجې پولینوم له پاره- چې غواړو ګراف يې رسم کړو یا کاږو- باید یو ارزښتجدول جوړکړو.

$y = f(x) = x^3 + 4x^2 + x - 6 \quad D_f = \{x \mid -4 \le x \le 3\}_{\mathbb{R}}$

$a_3 = 1 \quad a_2 = 4 \quad a_1 = 1 \quad a_0 = -6$

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| x = −4 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | −4 | 0 | −4 | |
| | 1 | 0 | 1 | −10 | = f(−4) |
| x = −3 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | −3 | −3 | +6 | |
| | 1 | 1 | −2 | 0 | = f(−3) |
| x = −2 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | −2 | −4 | +6 | |
| | 1 | 2 | −3 | 0 | = f(−2) |
| x = −1 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | −1 | −3 | +2 | |
| | 1 | 3 | −2 | −4 | = f(−1) |
| x = 1 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | +1 | +5 | +6 | |
| | 1 | 5 | 6 | 0 | = f(1) |
| x = 2 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | +2 | +12 | +26 | |
| | 1 | 6 | 13 | 20 | = f(2) |
| x = 3 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | +3 | +21 | +66 | |
| | 1 | 7 | 22 | 60 | = f(3) |
| x = −2,5 | 1 | 4 | 1 | −6 | |
| | | −2,5 | −3,75 | +6,875 | |
| | 1 | 1,5 | −2,75 | 0,875 | = f(−2,5) |

(c) ketabton.com: The Digital Library






ارزښتجدول؛

| x | -4 | -3 | -2,5 | -2 | -1 |
|---|---|---|---|---|---|
| f(x) | -10 | 0 | 0,875 | 0 | -4 |
| x | 0 | 1 | 2 | 3 | |
| f(x) | -6 | 0 | 20 | 60 | |

د لښتي- یا جدولارزښت سره کیدی شی په نږدې توګه ګراف وکښل شي.

که د ګراف کښلو کې څرګنده شي،چې یوبل ځای هم پاتې دی،دا کیدی شي هر وخت د هورنرشیما په مرسته پیدا شي.

ګراف په لاندې x – ځایونوکې صفر ارزښتونه لري: -3; -2;1

دا y – محور په -6 کې غوڅوي.

که په کښلوکې څرګنده شي چې یوبل ځای هم پاتې دی، نو دا کیدی شي د هونرشیما په مرسته پیدا کړو،د بیلګېپه توګه(0,5) f

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | 1 | 4 | 1 | -6 | |
| x = 0,5 | | +0,5 | +2,25 | +1,624 | |
| | 1 | 4,5 | 3,25 | -4,375 | = f(0,5) |

د پولینوم وېشني پر ځای کیدی شي د ټولراشنل تابع درجه د هورنر شیما له لارې هم کمه شي.
موږ د هورنر شیما څیړو:

موږ بیرته تابع ترڅیرني لاندې نیسو

$f(x)=x^3-x^2-5x+6$

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيرته چي x1=2يو صفرځای دی.

د f(x)=x³-x²-5x+6 لپاره د هورن شيما د x1=2 سره

| | |
|---|---|
| موخه د ضريب (x-2) له نوکانو وتنه ده.<br>$\begin{array}{cccccc} & 1 & -1 & -5 & 6 \\ x=2 & \downarrow & \underline{2} & \underline{2} & \underline{-6} \\ & 1 & 1 & -3 & 0 \end{array}$ | په دريمه ليکه کې دري عددونه د وېش نتيجو لپاره هم د پاتي پولينوم ضريبونه بللکيږي.<br>$f(x) = \underbrace{(x-2)}_{\text{Linearfaktor}} \underbrace{(1 \cdot x^2 + 1 \cdot x - 3)}_{\text{Restpolynom}}$<br>کربنيز ضريب پاتي پولينوم |

د f (x) د نورو صفرځايونو لپاره د پاتي يا باقي پولينوم صفرځايونه شميرو. دا د اړونده مربع مساوات د حل له لارې کيږي.

نتيجه يې د لاندې پولينوم وېش بېلګې سره وګورې.

**بیلګه:** $f(x) = \frac{1}{4}x^3 + x^2 - x - 4$ چيرته چي $x_1 = -2$ يو صفرځای دی.

| | |
|---|---|
| $\begin{array}{ccccc} & \frac{1}{4} & 1 & -1 & -4 \\ x=-2 & \downarrow & -\frac{1}{2} & -1 & 4 \\ \hline & \frac{1}{4} & \frac{1}{2} & -2 & 0 \end{array}$ | باقي يا پاتي پولينوم: $\frac{1}{4}x^2 + \frac{1}{2}x - 2$<br>$f(x) = (x+2)\left(\frac{1}{4}x^2 + \frac{1}{2}x - 2\right)$<br>د مربع مساوات حل $\frac{1}{4}x^2 + \frac{1}{2}x - 2 = 0$ له دی لاس ته راځي او معکوس: x2=2 او x3=-4 |

بیلګه:

$f(x) = -x^3 + 7x - 6 = -x^3 + 0 \cdot x^2 + 7x - 6$ چيرته چي $x_1 = 1$ يو صفرځای دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| باقي پولينوم:-1.x-1.x+6<br><br>$f(x)=(x-1)(.x^2-x+6)$<br><br>د مربعيز مساوات حل:<br><br>$.x^2-x+6$له دي لاس تره اوپه<br><br>څت يا برعکس $x2=2$ او$x3=-3$ | $\begin{array}{c\|cccc} & -1 & 0 & 7 & -6 \\ x=1 & \downarrow & -1 & -1 & 6 \\ \hline & -1 & -1 & 6 & 0 \end{array}$ |

لکه بيلګه چې ښايي، د هورن شيما سره د پاتې پولينوم ټاکنه ساده ده نسبت د پولينوم وېش ته.

دا ټولې پورته تلنلارې مو د مربع مساوات حل ته لاربښودوي. که دا ونه توانيږو، نو د نومريکې تلنلارو څخه کار اخستل کيږي، چې دا دلته نه څېړل کيږي.

**تمرينونه:** د پولينوم وېش...

د لندې ترمونو لپاره د پولينوم وېش وکاروی:

لومړی - $\left(x^3+2x^2-5x-6\right):(x+1)$ دیم - $\left(2x^3-14x-12\right):(x-3)$

دريم - $\left(3x^3-15x^2-51x+63\right):(x-7)$ څلورم - $\left(\frac{1}{2}x^3-\frac{3}{2}x^2-2x+6\right):(x+2)$

پنځم - $\left(x^3+\frac{11}{2}x^2+5x-4\right):(x+2)$ شپږم - $\left(x^3+\frac{3}{2}x^2-\frac{11}{2}x-3\right):(x-2)$

اوم - $\left(x^3-\frac{5}{4}x^2-\frac{23}{4}x+\frac{3}{2}\right):(x-3)$ اتم - $\left(x^3-\frac{5}{3}x^2-\frac{47}{3}x-5\right):(x+3)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم - $\left(x^3+\frac{3}{2}x^2-\frac{11}{2}x-3\right):(x+3)$ لسم - $\left(3x^3-15x^2-51x+63\right):(x-1)$

## تمرینونه: د ټول راشنل توابعو صفرځایونه.

تمرین ټولراشنل تابع **IV**

د صفرځایونو ټاکنه له مختلفو لارو څخه.

د یوه تاسو ته مناسب قانو له مخې د ټولراشنل توابعو صفرځایونه وټاکئ. د x محور سره د ګراف غوڅټکي و ټاکي او د تابع مساوات د کرښیزو ضریبونو د ضرب په څیر انځور کړئ.

اول - $f(x)=\frac{1}{2}x^4-\frac{13}{2}x^2+18$ دویم - $f(x)=x^3-4x^2+x+6$

دریم - $f(x)=\frac{1}{2}x^2-\frac{1}{2}x-1$ څلورم - $f(x)=-\frac{3}{2}x^4+\frac{75}{2}x^2-216$

پنځم - $f(x)=-\frac{1}{4}x^3-\frac{1}{2}x^2+\frac{11}{4}x+3$ شپږم - $f(x)=-\frac{3}{4}x^3-\frac{3}{2}x^2+\frac{9}{4}x$

اوم - $f(x)=3x^4-3$ اتم - $f(x)=\frac{1}{3}x^3+\frac{4}{3}x^2+\frac{1}{3}x-2$

نهم - $f(x)=2x^3-4x^2-16x$ لسم - $f(x)=2x^3+4x^2-26x+20$

## پوښتنې

د ټول هوښیار یا راشنل توابعو محورغوڅټکي ګرافونه

صفرځایونه وشمیرئ او ګرافونه وکاږئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: د لاندې توابعو صفرځايونه وشميرئ

الف- $f(x)=x^4+2x^3+x^2$ ب - $f(x)=x^2-6x+9$

پ - $f(x)=\left(x^2-25\right)\left(\frac{1}{2}x+4\right)$ ت - $f(x)=x^6-x^4$

ټ - $f(x)=3x\left(\frac{2}{3}x-2\right)(-2x+3)$ ث - $f(x)=3\left(x^2+4\right)\left(x^2-4x+10\right)$

دويم: لومړی: د د لاندې توابعو صفرځايونه وشميرئ

الف- $f(x)=x^4-6x^2+5$ ب - $f(x)=4x^4+6x^2-\frac{7}{4}$ پ - $f(x)=x^6-8x^4+20x^2$

دريم: لومړی: د د لاندې توابعو صفرځايونه وشميرئ

الف- $f(x)=2x^3+4x^2-2x-4$ ب - $f(x)=x^3-12x+16$

پ - $f(x)=x^4-2x^3-3x^2+4x+4$ ت - $f(x)=2x^3-10x^2-4x+20$

ټ - $f(x)=x^4-\frac{11}{4}x^2-\frac{9}{4}x-\frac{1}{2}$ ث - $f(x)=-3x^3+3x^2-3x+3$

ج - $f(x)=-5x^3-10x^2-\frac{5}{2}x-5$ چ - $f(x)=x^4+3x^3+5x^2+9x+6$

څلورم: لومړی: د د لاندې توابعو صفرځايونه وشميرئ

الف- $f(x)=-3x^4+15x^2-12$ ب - $f(x)=x^4-x^3-2x^2$

پ - $f(x)=-2x^3+2x^2+16x-24$ ت - $f(x)=\left(x^2-6x+9\right)(x-4)$

ټ - $f(x)=x^6-3x^4-4x^2$ ث - $f(x)=x^4-25x^2-60x-36$

پنځم: د لاندې ټولراشنل توبعو ګرافونه په يوه مناسب پروتولاړ يا کواودينات سيتم کې وکاږئ. د دې لپاره يو ارزښت جدول واچوئ او محور غوښتکي وټاکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- $f(x)=x^3-6x^2+9x \quad D_f=\{x\,|\,-0{,}5\le x\le 4{,}5\}_{\mathbb{R}}$

ب - $f(x)=x^3+\frac{3}{2}x^2-6x-2 \quad D_f=\{x\,|\,-3{,}5\le x\le 2{,}5\}_{\mathbb{R}}$

پ - $f(x)=x^3-6x^2+9x-2 \quad D_f=\{x\,|\,-0{,}2\le x\le 4\}_{\mathbb{R}}$

ت - $f(x)=\frac{1}{2}x^3-\frac{1}{2}x^2-4x+4 \quad D_f=\{x\,|\,-3\le x\le 3{,}5\}_{\mathbb{R}}$

ټ - $f(x)=x^3-\frac{3}{2}x^2-6x+2 \quad D_f=\{x\,|\,-2{,}5\le x\le 3{,}5\}_{\mathbb{R}}$

ث - ج - $f(x)=\frac{1}{4}x^3-3x^2+9x \quad D_f=\{x\,|\,-0{,}2\le x\le 8\}_{\mathbb{R}}$

شپږم: د لاندې توابعو صفرځايونه وټاکئ او ګراف يې تر شونې پولې پورې ښه وکاږئ. ارزښتجدول کيږدئ او ځنې ارزښتونه د جبشميري سره وشميرئ. ځنې صفرځايونه اټکل کړئ او که شوني وي، صفرځايونه وشميرئ.

الف- $f(x)=x^3-\frac{2}{3}x^2-\frac{10}{3}x-1$ ب - $f(x)=0{,}01(x^3-x^2-x+1)$

پ - $f(x)=0{,}1x^3-0{,}3x^2-9x-10$ ت - $f(x)=(x-1{,}7)(x^2-3)$

تر ۶۴۰ پورې دلته محورغوځتېکيراځي؟

## اړيکي "Relation":

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرلیک

یوه اړیکۀ له دوه شیانو جوړه ده:

١ – یوه وینابنه

٢ – جوړه، چې دا وینا یې پوره کوي( چې وینابنه یوه رښتیا وینا کوي)٠

بیلګه :

دیوې کورنۍ د غړو ډیرۍ A دې ورکړ شوې وي او B د لوبو یا موزیک الو ډیرۍ٠

| B | A |
|---|---|
| فوټبال | سپین |
| هاکي | |
| زیرګل | |
| والبال | |
| کوچۍ | |

یا دا لاندې




| موزیک الي | | د کسانونومونه: |
|---|---|---|
| پیانو<br>شپیلی<br>ګایګي | <br> | پتر<br>یوسف<br>هاینځ |

د دواړو ډیریو په منځ کې یوه بینار وینابنه دې یوه وینابنه وي، چې سرۍ a الهbاندې لوبې کوي٠

جوړه ، چې وینابنه پوره کوي، کیدی شي د بیلګې په توګه لاندې جوړې وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتر په کلاویر لوبه کوي، یوسف په کلاویر لوبه کوي ، یوسف په ګایګي لوبه کوي، د ځیرې په توګه اړیکې داسي انځوریږي:




a spielt das Instrument b

یا دا لاندې




نورې بیلګې

موږ د مخه دا لاندې ډیرې منځ ته ر اوړې:




د دواړو ډیریو په منځ کې د اړیکو په ځیر موږ اړیکې «په اله لوبه کوي» راوړې یا دا لاندې

| | |
|---|---|
| فوټبال<br>هاکي<br>والبال | سپین<br>زیړګل<br>کوچې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک







a spielt das Instrument b

په پورته کې ښوول کیږي، چې څوک په کومه اله لوبه کوي.
موږ اوس دواړه ډیری A او B ساتو ، مګر د دوي ترمنځ نوې اړیکې غواړو وپیژنو یا تعریف کړو:
بینار اړیکې دې اوس داسې وي، چې « اله لري» او « په اله باندې لوبه کوي» نور نهوي٠
د دې برسیره دې اړیکې « اله لري » لاندې درې جوړې ولری :
هاینځ کلاویر لري
هاینځ یوه ګایګې لري
یوسف یوه کلاویر لري
د ځیرې په ځیر انځور یږي:







a besitzt das Instrument b

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلکیږي، چې د دوه ډیریو په منځ کې مختلفې اړیکې منځ ته راتللی شي یا ټینګیدلی شي٠

شننیزه انځورونه

مخ ته تیرو مخونوکې مو زده کړل، یوې اړیکې پورې دوه شیان اړه لري: یوه وینا بڼه او یوه جوړه، چې دا وینابڼه پوره کوي٠

کله اړیین نه دي یا نه شي کیدی، چې ټولې جوړې ورکړای شو، کومې چې په یوه اړیکې پورې اړه لري٠

بیلګه ۱

ډیری $A = \{ 1,2,3\}$ او ډیری $B=\{1,2,3\}$ دې ورکړ شوي وي٠ وینابڼه کوچنی له یا لنډ >

هر زده کوونکی پوهیږي، چې جوړې $(1/2),(1/3)$ او $(2/3)$ دا وینابڼه پوره کوي٠ جوړو ګڼلو ته اړنه یو، بلکې دا د وینابڼې مخ ته پرتې ډیری A او B ته٠

بیلګه ۲

په ځانګړې توګه دا هلته له پامه غورځول کیږي، چې ټولې جوړې وشمیري، کله چې وینابڼو ته مخ ته پرتې ډیری یا ډیرې لویې وي او یا ناپای٠

بیلګه : ډیری : $A = B = \{1, 2, 3, \ \dots \}$

وینابڼه: له هغې، چې لیدل کیږي، چې بیخي ناشوني ده، چې ټولې جوړې وشمیرل شي، چې دا وینابڼه پوره کوي٠

بیلګه ۳

کله کله اړیکه بیخي نه شي انځوریدلی٠

بیلګه : ډیری نارینه =M او ښځینه =F وینابڼه کې راوستل شي، چۀ « واده له سره »٠

دا څوک نه شي ګڼلی، چې څوک له چا سره واده دی او دا نه په برخه اخستونکو ډیریو M او F کې ورکړ شوې٠

د یوې اړیکې تیوپ یا ډول

اړیکه په دوه ګروپونو ویشل کیدی شي٠

۱ – ددوه ډیریو ترمنځ اړیکې

۲ – د یوې ډیری په دننه کې اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیوپ ۱ – مورې وپیژند
د تیوپ ۲ - لپاره بیلګه لاندې اړیکي دي( چې په ځیره کې کښل شوي دي):




x له y څخه کوچنی دي

د مخ ته تیرو بیلګو په مخامخوالي یا تضاد دلته د ډیریو د توکو ترمنځ اړیکی پرتې دي
بنسټډیری ،موخه ډیری یا تر مخورشو پسي ورشو
Erklärungروښانه ونه
د ډیری A ( بنسټډیری ) او B ( موخه ډیری ) په اړیکو کې په ریښتوني د مخ ته ورشو ( پتر ،یوس ) همداسي ورپسي ورشو ( کلاویر، ګایګې ) اړیکې هغه توکي جوړوي، چې په کارونه کې ونډه لري۰
A د لوبغاړو نومونه دي او B د لوبو نومونه دي







بنسټډیری : {سپین ، زیرګل، کوچی } Grundmenge:
موخه ډیری : { فوتبال ، هاکي ، والیبال } Zielmenge

(c) ketabton.com: The Digital Library



Vorbereich ترمخورشو {Peter, Josef} :
Nachbereich ورپسي ورشو {Klavier, Geige} :

ځني شميرپوهان دا مخورشو او همداسي پسي ورشو، تعريفډيرى ،
ارزښتډيرى يا تعريفورشو همداسي ارزښتورشو بولي

## Relationstafelد اړيکو تخته

تراوسه مو تولي اړيکي د غشيدياګرام له لارې انځور کړل٠ يو شونوالى يا امکانات يې
د اړيکو تختې له لارې انځورونه ده:

د دې لپاره د بنسټډيرى او موخه ډيرى توکي په يوه جدول کې ليکو ٠ د بنسټډيرى توکي په
پورته ليکه کې ليکو اود موخه ډيرىتوکي په کيڼ درځ يا کينه متمه کې ليکو ٠

په صليبونه سره هغه پيژند يا تعريف ورکول کيږي، چې د موخه ډيرى
په توکي باندې د بنسټډيرى يو توکى تنظيم شوى وي٠

د بيلګي په توګه بيرته همغه د ساز الو سره بيلګه راوړو




په دې پورې اړونده اړيکتخته په لاندې ډول ليدل کيږي

| | Peter | Josef | Heinz |
|---|---|---|---|
| Klavier | x | x | |
| Flöte | | | |
| Geige | | x | |

د کواوردينات سيستم انځوربنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراوسه مو اړيکې د غشيدياګرام او اړيکتختو له لارې انځور کړې۰ اوس يو دريم شوونوالی يا دريمه شوونتيا يا امکان غواړو وپيژنو:
انځورونه په يوه کواوردیناتسیستم کې :

د بنسټډيرۍ توکي د پروتمحور په نخښنه کوو او د موخه ډيرۍ توکي په ولاړ محور په نخښنه کوو ۰
د ټکو سره هغه د بنسټډيرۍ توکي او ورسره د تنظيمډيرۍ تنظيم توکو ټاکلي وي

بيلګه

د بيلګی په توګه بيرته هغه بيلګه د لوبو يا موزيک الاتو سره ټاکو:
دلته په دې لاندې الماني ليکنپيا ښه يې :خيره بسيا کړی شو




په کواوردیناتسیستم کې انځورونه داسې ليدل کيږي




کڼ پوره کيدونکی اړيکې :
د Aځخه هرتوکی کم له کمه د B په يوه توکي تنظيميږي( پيژندورشو يا مخ ته ورشو او بنسټيزه ډيری کټمټ دي)
ښي پوره اړيکې : دB هر توکی کم له کمه د ځيرې په توګه منځ ته راځي ( پسې ورشو او موخه ډيرې کټمټ دي )

(c) ketabton.com: The Digital Library






rechtsvollständig

ښی پوره




Linksvollständig

کیڼ پوره

ښی  یواځنی اړیکې

د ښنسټډیری (کیڼ)   هر توکی  په زیات ترزیاته د موخه ډیری ( ښی) باندې تنظیمیږي٠

پام مرسته : غشي ښي « ښیلوریز) یواځنی دي٠

کیڼ یواځنی اړیکې :

د ښی ډیری هر توکی زیات ترزیاته یو وار د یوې ډیری ( کیڼډیری ) د خیرې په ډول منځ ته راځي٠

پام مرسته : غشي ښي لورته یواځني دي٠

ناټیکوالی!

یا دا لاندې، چې د توپونو په ځای موزیک الې ورکړ شوي دي




linkseindeutig

کیڼ یواځنی




rechtseindeutig

ښی

یواځنی،   .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کينپوره کيدونکی او بنی يواځنی اړيکي يواځنی اړيکي بلل کيږي ( فنکشن او يا ځيروني)

په غشيدياګرام کي يو فنکشن په دي پيژندل کيږي ، چي په هر توکی تيک يو غشی پيل کيږي

په ښه اړيکي : په خپ اړيکو کي

١ – مخ – او پسي ورشوګاني سره بدليږي( پيژنديری او ارزښتډيری )

٢ – اوښتوني سره بدليږي

رفلکسيو اړيکي reflexive relations

دياګرام : په هرتوکي يوکړئ غشی شته

رفلکسيو اړيکي :

د رفليکسو اړيکو پيژند : د هرو برابرو توکو جوړه اړيکو پوري اړ ج لري

د فرمو په ځير يي ليکنه : د تولو a لپاره باور لري:
aRa




**Bild: Die reflexive Relation ≥**

انتيرفلکسيو( ايرفلکسيو اړيکي
Antireflexive
(irreflexive)
Relationen

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيژند : په انتيرفلکسيو اړيکو کې  په هيڅ توکي کړۍ غشی نه شته
د همغه توکي جوړه اړيکو پورې اړوند نه دی، يا په اړيکو ونده نه لري۰
د فرمول په توگه ليکل يي : ¬(aRa)




سيومتريکي اړيکي : symetric relations
هر غشي ته  په څټ غشی شته
که  (a,b) اړيکو پورې اړه ولري ، نو  (b,a) هم په اړيکو پورې اړه لري۰
د سيومري اړيکو څيره: « همغومره ورځې لري لکه»




انتيسيومتري اړيکي: Antiasymetric reltions
د انتيسيومتري اړيکو دياگرام : په څټ غشی نه شته ۰
که  (a,b)  په اړيکو اړه ولري،نو  (b,a) په اړيکو اړه نه لري، مگر که  a = b
وي۰

فرمول: a = b   <= a R b /\  b R a



Bild: Die antisymmetrische Relation $\geq$

(c) ketabton.com: The Digital Library



Antiasymetric reltions: ناسیومتریک اړیکي پورته څېره

اسيومتريکي اړيکي
asymetric relations ( Asymmetrische Relationen)

د اسیومتريکي اړيکو دياګرام نه په ښت غشی لري او نه کړي غشی لري٠
د اسيومتريکي اړيکو پيژند: انتيرفليکسيو او انتيسيومتريکي اړيکي
فرمول : ¬(bRa ⇒ aRb

| | |
|---|---|
| څېره: اسيومتري اړيکي |  |

# خیره کونه یا توابع Funktionen

p

يادونه: په انرېزي کي mapping د او الماني کي DieAbbildung په نامه ن,مولشوي، چي پښتومانا يې خيرونه يا خيره کونه ده.

فنکشندوه اوښتونيا واريابلېلري، چي يوه خپلواکه اوبله يپواکه ده. له دېام له د فنکشن لهپاره ناسمد تابع نومورکړشويدی.

## په رياضي يا شميرپوهنه کې خيرونه يا توابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شمیرپوهنه کې طبیعي ، تخنیکي یا هم نورو ورځنیو کارونو کې زیات وخت یوه لویه د بلې لوي په واک کې وي یا که غواړئ د هغې تابع وي، لکه د بیلګې په توګه د یوه موټر د بنزین سوزول یا استعمالول د هغه د تللې چټکتیا یا سرعت په واک کې یا تابع دی. دا ډول ساده اړیکې مو پخوا هم لوستلي او ګرافیکي مو په یوه کواوردینات – یا پروتولاړسیستم کې انځور کړي.

بیلګې:

د یوه شي یا جنس قیمتت د هغه د خرڅ شوې ډیرئ یا سټ په واک کې دی یا تابع دی.

ټوله دباندنۍ تودوخي د ورځې د وخت په واک کې ده.

د یوه بایسکلځغلونکي وهلې لار په مساوي چټکتیا یا سرعت د تلنې وخت په واک کې ده.

د موټر د بریک لار په روښانه توګه د هغه د چټکتیا په واک کې ده.

د یوه کوچني لوبدنه د هغه د عمر په واک ده.

د یوه ریاضي ازموینې نمرې د لاس ته راوړول ټکو په لاس کې ده.

د یوې بډایئ د ګټې قیمت یا لاس ته راوړنه د په د مخه ټاکلې ګټې سره دوخت تیرېدنې په واک کې ده.

تمرین ۱ : د داسې یو په واکوالي یا تابعیت لپاره نورې بیلګې هم پیدا کړئ.

له پورته بیلګې څخه لیدل کیږي، چې هر دوه لویې سره تنظیمیږي.

ډیرئ یا سټ ← وخت خرڅشوې سټ په قیمت اغیزه لري.

د ورځې وخت ← تودوخي. د ورځې وخت په اندازه شوې تودوخي اغیز لري.

د لاس ته راړلو ټکو تعداد یا ګنون ← نمرې د یوې ازموینې نمرې د لاس ته راړلو ټکو اغیزمن کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمرين ۲ : د پاتې بيلګو لپاره او د هغو لپاره چې په تمرين ۱ کې مو ميندلي اړيکې پيدا کړئ.

دا يو له بل سره تنظيم شوي لويې متحولې(اووښتوني يا **Variablen** ) بلل کيږي.

دلته دې دې ته پام وشي، چې کوم په واکوالی يا تابعيت د دوي په منځ کې شتون لري.

د رياضي نمرې د ښوونکي له نظره د لاس ته راوړو ټکو په واک کې دي، مګر نه د نمرو د ټکو په واک کې.

سړی نمرې د بلواک يا تابع متحولو په حيث هم ښايي او د ټکو تعداد د خپلواک متحولو په حيث ښايي.

د ټکو او نمرو په منځ کې يو فنکشن يا بلواکيزې يا که غواړئ تابعيتي اړيکې شتون لري.

لکه د مخه درسونو څخه چې پوهيږو، ډېر امکانات شتون لري چې د دوه متحولو ترمنځ تابعيتي اړيکې تشريح کړو يا انځور کړو.

د مختلفو چټکتياو لپاره د بريک لار اندازه کيږي او يو ارزښت جدول ترتيبيږي.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| چټکتيا په km/h(x) | 20 | 40 | 60 | 80 | 100 | 120 |
| د بريکنيولو لار په m(y) | 4 | 16 | 36 | 64 | 100 | 144 |

که د جدول ارزښتونه په يوه پروت ولاړ – يا کواوردينات سيستم کې وکښل شي، نو سړی ګراف لاس ته راوړي وروسته له هغې چې ټکي يو له بل سره وتړل شي کوم چې د چټکتيا او بريکلار ترمنځ اړيکې تشريح کوي.




د پراته محور ، چې ابسخيز هم بلل کيږي د خپلواکي متحولي x ارزښتونه پيدا کيږي، په ولاړ محور چې اوردينات هم بل کيږي د بلواک متحولي y = f(x) ارزښتونه ميندل کيږي.

تمرين ۳ : د ارزښت جدول سره سم په يوه مناسب پروتولاړ – يا کواوردیناتسيستم کې اړونده ټکې وکاږئ او دا په يوه ګراف کې سره ونښلوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بریکلار د چټکتیا 90 ; 70 ; 50 ; 30 او 110 km/h لپاره د لوستلو له لارې وټا کئ.

پولیس یوه د90 m د بریک لار اندازه کوي؟

دا موټر د کومې چټکتیا یا سرعت سره خغلي؟

زیات وخت دا هم شوني ده چې فنکشنال یا تابیعي اړیکې د تابع مساوات له لارې انځور شي.

د بریکلار لپاره باور لري: $y = f(x) = 0,01\ x^2$

دلته $y = f(x)$ د بریکلار لپاره اینسوول شوی ا و دا وایي، چې y -کواوردینات په کواوردیناتسیستم کې د متحولې x په واک کې دی، یعنې د خپلواک متحولې x یو تابع دی یا په واک کې دی. تابعمساوات دی، کوم چې هغه قانون ورکوي، چې ارزښتونه د f(x) تابع یا بلواک متحولې جوړوي.

د تابع مساوات په ځای هم وایو چې $f(x) = 0,01\ x^2$ د تابع قانون دی.

تمرین ۴ : که تابع مساوات $f(x) = 0,01\ x^2$ وي، نو لوستل شوي ارزښتونه وشمیرئ؟

له دا تراوسه شوې کار څخه کیدی شي ووایو:

پیژند یا تعریف:

د یوه تابع سره د خپلواک متحولې x هر ارزښت ټیک یو تابع ارزښت f(x) باندې- یا سره تنظیمیږي. سرې دا هم وایي چې یوه تابع یو یواځنی نظم دی.

$$\underbrace{f : x \rightarrow \underbrace{f(x) = x - 1}_{\text{Funktionsgleichung}}}_{\text{Funktion}}$$

لیکنډول f:

پورته لومړۍیې په پښتو: تابع برابرون

که په راتلونکې کې له یوه تابع غږیږو، نو د دې تشریح لپاره فقط تابع مساوات ورکوو، یعنې فقط f(x) = ..... ی.

د تابع نوم f دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا $x \to f(x)$ ليکندود روښانه کوي، د هر x –ارزښت سره يو ټاکلی تابع ارزښت $f(x)$اړه لري.

تابع مساوات $f(x) = x - 1$ د شميرلو قاعده يا قانون راکوي، چې تابع ارزښت څنګه جوړيږي.

د دې لپاره چې د نظم يواځنوالی بيا وښايو، لاندې بيلګه راوړو:

هر زده کوونکی يو ټاکلی د بوټانو لويوالی لري. دلته حتمي ده چې زيات زده کوونکي به يو- - يا هماغه د بوټانو لويوالی ولري.

يواځنواوالی په زده کوونکو اړه لري ← د بوټانو لويوالی.

د متحولو سره کښلی يا ليکلې دا په دې معنا دی، چې د زده کوونکي نوم خپلواکه متحوله په ګوته کوي او هغه سره تنظيم شوې د بوټانو لويوالی بلواکه يا تابع متحوله جوړوی.

معکوس يا په څټ د زده کوونکو تنظيم يواځنی نه دی، ځکه چې ډېر زده کوونکي د بيلګې په توګه ۴۲ نمرې د بوټانو لويوالی لرودی شي.

دا ډول تابع د تابعمساوات نه لري، دا کيدی شي چې د ډېرئ څيرې يا ستعکس په څير انځور شي.

يواځنی نظم(تابع يا فنکشن)




د بوټانولويوالی ډېرئ ياسټ      د زده کوونکو سټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ارزښت ډېرۍ)                    (تعریفډېرۍ)

نظم یواځنی نه دی ( تابع نه دی)




د دواړو ستونو بدلول

د ریاضیکي توابعو او تابعمساواتو بیلګي ( له کيڼ و ښي لورته)

| | |
|---|---|
| $f(x) := \frac{1}{2} \cdot x + 2$  کرښنیز مساوات(ګرښنه ) | $f(x) := \frac{1}{2} \cdot x^2 - 1$  مربع مساوات(پارا بل) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) := \frac{-7}{120}\cdot x^4 + \frac{23}{24}\cdot x^2 - \frac{9}{10}$$




د څلورمې درجې پولراشنل تابع

$$f(x) := x^3 - x^2 - 11x + 3$$




د دريمې درجې پولراشنل تابع

$$f(x) := \sqrt{x}$$




ريښه تابع

$$f_1(x) := e^x \qquad f_2(x) := e^{-x}$$




اکسپوننشل تابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



$f(x) := \sin(x) \quad g(x) := \tan(x)$




ترېګونومتريکي(مثلثاتي) تابع

$f(x) := \log(x) \quad g(x) := \ln(x)$




لوګاريتمتابع

$f(x) := 5 \cdot \left(1 - e^{-0.5 \cdot x}\right)$




اکسپوننشل مربنتکره

$f(x) := 10e^{-0.5 \cdot x}$




اکسپيننشلي کښته کيدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) := \frac{1}{x^2}$$




های پارابول محورسیومتریک

$$f(x) := \frac{1}{x}$$




های پارابول ټکی سیومتریک

# تعریف- او ارزښتډېرئ یا - سټ

تعریف(پیژند):

د یوه تابع تعدریفسټ **D** د ټولو خپلواکو متحولو ډېرئ یا سټ ده، د کومو لپاره چې تابع تعریف دی.

ارزښت ډېرئ **W** د ټولو تابع ارزښتونو- یا بلواکو - سټ ده، چې د D له ټوکو منځ ته راځي.

بیلګه:

| | |
|---|---|
| $f(x) = \frac{1}{x}$ تعریفسټ $D = \mathbb{R} \setminus \{0\}$ | $f(x) = \frac{1}{2}x + 2$ تعریفسټ D=R |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د صفر سره د ویش اجازه نه شته | Rد حقیقیي اعدادو ډېرئ ده |

بیلګه:

| | |
|---|---|
| $f(x) = x^2 \quad D = \mathbb{R}; W = \mathbb{R}_+$<br>د تابع ارزښت په حیث فقط مثبت یا زیاتیز ارزښتونه رامنځ ته کیږي | $f(x) = x+1 \quad D = \mathbb{R}; W = \mathbb{R}$<br>تابع هر په خوښه ارزښت نیولی شي. |

## شمیرپو هنیزه لیکندود او د هغه معنا

$f(4) = 7$ د خپلواکو متحولو د ارزښت x = 4 لپاره د تابع ارزښت 7 دی.

دا د ارزښتجوړه ( 7 | 4 )په کواوردیناتسیستم کې د ټکي ( 7 | 4 ) P کواوردیناتونه جوړوي.

$f(x) = 9$ غوښتونی د x -ارزښت دی، چې په هغه پورې تابع ارزښت 9 اړه لري.

$y = f(5)$ د x = 5 لپاره تابع ارزښت دی.

تولکه:

یو یواځنی نظم، چې په هغه کې د تعریف ست D څخه خپلواکه متحوله x ټیک یو تابع ارزښت f(x) باندې تنظیم شي ځیرونه ( چېمور یې تابع بولو) یا فنکشن بلل کیږي.

تابعي(خپلواکیز) یا فنکشنلي اړوندوالی د یوه تابع مساوات( د بیلګې په توګه: f(x) = 2x + 1 ) سره لیکل –یا تشریح کیږي.

تابع مساوات کې د x –ارزښتونو په ایښولو سره د تابع ارزښت لاس ته راځي، چې دا د x -ارزښتونو سره یوه ارزښت جدول کې ایښولی یا انځورولی شو.

د ارزښتجدول هره جوړه په کواوردینات سیستم کې ټیک یو ټکی په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زياتو حالتونو کې کيدی شي دا منځ ته راغلي ټکي يوه ګراف ته سره رايوځای يا وتړل شي.

د ټول x - ارزښتونو ډېرئ، هغه چې په تابع مساوات کې ځای په ځای شي تعريف ډېرئ يا ــسټ بلل کيږي.

د ټول تابع ارزښتونو ډېرئ يا ــسټ، چې دلته منځ ته راځي، د تابع ارزښت ډېرئ W پورې اړه لري.

## د تمرينونو حل

لومړی تمرين: د داسې بلواکوالي لپاره نورې بيلګې پيدا کړئ.

ځواب: - د يوه تيلسوزونکې ماشين قدرت د ځرخونتعداد( د ماشين د ځرخيدو تعداد) په واک کې دی.

- د يوې ګردئ يا دايرې سطحه د وړانګې يا شعاع په واک کې ده.

- د بريښنا پيسې د ثابت قيمت سره د انرژي يا بريښنا مصرف په واک کې ده.

دويم تمرين : د پاتې بيلګو او د هغو لپاره چې تاسو په لومړي تمرين کې وليدل ګډې اړيکې سره په فرمولبندۍ کې راوړي.

ځواب:

لار → د خوزښت وخت: په مساوي پاتې چټکتيا د خوزښت وخت په وهلې لار اغيز لري.

بريکلار → چټکتيا: د يوه موټر چټکتيا د بريکلار باندې اغيزه لري.

ټوله ګټه → د تيريدني وخت: د سرمايي ايښوني وخت د ګټې لاس ته راوړنه باندې اغيزه لري.

وده → عمر: د کوچني عمر د هغه په وده اغيزه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت → ځرخونتعداد: د یوه سوزونکي ماشین د تیلو سوزیدنه د هغه په ځرخونتعداد پورې اړه لري.

سطحه → وړانګه : د ګردئ یا دایرې وړانګه د دایرې سطحه باندې اغیز لري.

د بریښنا حساب → انرژي ستې: د سوزولې بریښنا یا انرژئ ستې یا ډېرئ د بریښنا بل(هغه د مصارفو کاغز) اغیزمن کوي.

دریم تمرین:په یو مناسب کواوردیناتسیستم کې د ارزښت جدول اړوند ټکي وکاږئ او دا یوه ګراف ته سره وتړئ.

د چټکتیا 90 ; 70 ; 50 ; 30 او 110 km/h لپاره د لوستلو له لارې بریکلار پیدا کړئ.

پولیس یوه د 90 m بریکلار کچوي. دا موټر دکومې چټکتیا سره تلی؟

ځواب:

د 30 km/h چټکتیا بریکلار 9 m ده

د 50 km/h چټکتیا بریکلار 25 m ده

د 70 km/h چټکتیا بریکلار 48 m ده

د 90 km/h چټکتیا بریکلار 80 m ده

د 110 km/h چټکتیا بریکلار 120 m ده

له 90 m بریکلار سره یو موټر 95 km/h د چټکتیا سره ځغلي.

تلنلار: په کواوردیناتسیستم یا پروتولاړ سیستم کې د x -محور(ابسځیزا) د خپلواکو متحولو ډېرئ نمایندګي کوي، د y –محور (اوردینات) د بلواک یا تابع متحولو نماینده ده.

د مخه له دې چې په یوه کواوردیناتسیستم کې ارزښتونه لیکل –یا کښل کیږي باید وکتل شي، چې کومه خپلواک- او کومه بلواک- یا تابع متحوله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسي دا هم غوره ده، چي د کچوني لپاره يوو ښه کچونی يا هغه اله چي اندازه پرې کچوو بايد وموموو.
د دې لپاره د جدول لوي او کوچني ارزښتونه کتل کيږي او پرېکړه کيږي چ دواړه محوررونه په څو برخو بايد وويشل شي.

وروسته له هغي چي ټول په جدول کې ټکي په کواورديناتسيستم کې ځای په ځای شوي، نو بيا دا ټکي د ګراف په توګه سره تړل – يا نښلول کيږي

کيدی شي له ګراف څخه د داسي x -ارزښتونو لپاره هغه لړ يا ډېر تابع ارزښتونه هم ولوستل شي، چي په ارزښت جدول کې مخ ته نه راځي.

معکوس کيدی شي د يوه ټاکلي تابعارزښت اړونده x -ارزښت ولوستل شي. د دې نتيجو ټيکوالی د دې په واک کې دی، چي ګراف څومره ټيک کښل شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کواوردینات – یا پروتولاړسیستم کې: پروت: چټکتیا په کیلومتر. ولاړ:بریکلار په متر

څلورم تمرین:

لوستل شوي ارزښتونه وشمیرئ، که تابع مساوات $f(x) = 0{,}01\,x^2$ وي.

ځواب:

تابعارزښتونه داسې شمیرلکیږي، چې اړونده د x ارزښتونه په تابع مساوات کې کیښوول شي.

$$f(x) = 0{,}01x^2 = \frac{1}{100}x^2$$

$$x = 30 \Rightarrow f(30) = 0{,}01 \cdot 30^2 = 0{,}01 \cdot 900 = 9$$

$$x = 50 \Rightarrow f(50) = 0{,}01 \cdot 50^2 = 0{,}01 \cdot 2500 = 25$$

$$x = 70 \Rightarrow f(70) = 0{,}01 \cdot 70^2 = 0{,}01 \cdot 4900 = 49$$

$$x = 90 \Rightarrow f(90) = 0{,}01 \cdot 90^2 = 0{,}01 \cdot 8100 = 81$$

$$x = 110 \Rightarrow f(110) = 0{,}01 \cdot 110^2 = 0{,}01 \cdot 12100 = 121$$

د 30 km/h چټکتیا بریکلار 9 m ده

د 50 km/h چټکتیا بریکلار 25 m ده

د 70 km/h چټکتیا بریکلار 48 m ده

د 90 km/h چټکتیا بریکلار 80 m ده

د 110 km/h چټکتیا بریکلار 120 m ده

له 90 m بریکلار سره یو موټر 95 km/h د چټکتیا سره ځغلي.

بریکلار 90 m کچ شوي ، غواړو چټکتیا پیدا کړو.

پیل: $0{,}01x^2 = 90$ ⇔ $f(x) = 90$ دا مساوات په x پسې ځواب کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$0{,}01x^2 = 90 \,|\, : 0{,}01 \Leftrightarrow x^2 = 9000 \,|\, \sqrt{\ }$$

$$\Leftrightarrow |x| = \sqrt{9000} \Leftrightarrow |x| = \sqrt{900 \cdot 10} \Leftrightarrow |x| = 30\sqrt{10}$$

ارزښت حل کړئ.

$$|x| = 30\sqrt{10} \Leftrightarrow x_{1/2} = \pm 30 \cdot \sqrt{10} \approx \pm 94{,}9$$

نسبت و پوښتنې ته فقط مثبت يا زياتيز ارزښتونه موخه ور دي، ځکه چې موږ مثبته چټکتيا په پام کې نيسو. د 90 m بريکلار سره د موټر چټکتيا 94,9 km/h وه.

يادونه:لومړی شميرنه ټيک ارزښتونه راکوي، سره له دې هم موخه وردی، چې دا شميرل شوي ارزښتونه په ګراف کې يا له ګراف څخه هم د لوستلو له لارې کنترول کړو.

## پوښتنې

## تابع I

لومړی:

ټول ټکي په کواوردينات سيستم کې په نخښه کړئ، چې کواوردينات يې ورکړ شوي شرايط پوره کوي.

الف- $y \le -1 \wedge x \ge 1$ ب- $y \in \mathbb{R} \wedge -2 \le x \le 3$ پ- $x \in \mathbb{R} \wedge y = 2$

ت - $0 \le x \le 4 \wedge y \ge 0$ ټ- $|x| \ge 1{,}5 \wedge |y| \le 2$ ث- $y > 0 \wedge x = -1$

دويم: په مناسب کواوردينات سيستم کې لاندې ټکي رسم کړئ.

$$A(40\,|\,220);\ B(10\,|\,250);\ C(200\,|\,300);\ D(80\,|\,240)$$

ايا د x – او y -کواورديناتو ترمنځ کومې اړيکې شته؟ د دې لپاره يو ترم وليکئ او نور درې ټکي ورکړئ.

دريم: د ټکو ځای وټاکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- ټکي $P_t\left(t-1\middle|\frac{1}{t+1}\right)$ د t€R کوم ارزښت په لومړئ څلورئکي پروت دی؟

ب- ټکي $Q_t\left(t\middle|t^2-1\right)$ د t€R کوم ارزښت لپاره دx محور کښته لور ته پرته ده؟

څلورم:

د ټکوډېرئ یا ـسټ $A=\left\{(1|3);\left(2\middle|\frac{3}{2}\right);(3|1);\left(4\middle|\frac{3}{4}\right);...\right\}$ ورکړ شوی دی.

د A نور دري توکي ورکړئ او دا ټکي په یوه کواوردینات سیتم کي وکاږئ. ایا د x- او y -کواوردیناتونو ترمنځ اړیکی شته؟

پنځم: یو ټکی $P\left(t\middle|\frac{t}{2}+3\right)$ د t€R سره ورکړشوی دی.

د t لپاره څه ارزښتونه ورکړي او دا د دې اړونده ټکي په یوه کواوردینات سیستم کي وکاږئ.

د کومو t -ارزښتونو لپاره باور لري:

د ټکي P د x -کواوردینات د ټکي د y -کواوردینات سره برابر دي؟

شپږم: په نخښه شوي کربنه او همداسي سطحه تشریح کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library






# پوښتنې

## توابع II

لومړی

ښاغلی برګ د یوه ملفون(لاسي یا لاسي تلفون) قرارداد د لاندې شرایطو سره وکړ:

د میاشتې € 20 ، د تلفون قیمت په دقیقه € 0,35 .

الف- که دی 80 ,40 یا 120 دقیقې تلفون وکړي، نو میاشتنی حساب به یې څومره جګ وي؟

ب - لګښت لپاره یو ترم ولیکئ چې په دقیقه کې د خبرو د دوام په واک کې وي.

پ – اړیکې ګرافیکي انځور کړئ.

دویم:یوه الوتکه د سوزونموادو کیروزین 10500 Liter لیتره زخیره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په 100 km دا 180 Liter سوزوي.

الف- د په لیتر مصرف جدول جوړ کړئ. یو واټن له 0 km تر 5000 km پورې وټاکئ.

ب – اړیکې یې ګرافیکي ځور کړئ.

پ-له څومره کیلومتره وروسته به زخیره تمامه شوې وی؟

ت - د الوتنې د لار ترم د ټانک د خوندیونې په واکوالي کې وټاکئ.

دریم: یو د شمیراړونې جدول جوړ کړئ، چې $^0$ څلزیوس ($^0$C) په فارنهایت($^0$F) اړوي د $20^0$C - او $60^0$C په ساحه یا ورشو کې. د دې لپاره اړین داتا تشریح کړئ. اړیکې ګرافیکي انځور کړئ. دا اړیکې کوم ترم په ګوته کوي؟ د ا د تبې تودوخئ کچونه (ترمومتر) د ناروغ د تبې په اندازه کئ چې ده ایا دا حرارت یا تودوخي د ژوند خطر لري؟

څلورم: یوه د مالونو لیږلو مغازه غواړي لګښت له امله یو د تحفې پاکټ ولیږي. د پاکټولو تخنیکي پرابلم له امله یې یو اړخ د 35 cm سره کره ټاکلی دی. د پوست د لګښت نظم باید په پام کې نیول شوی وي

د لګښت نظم: مربع ډوله پاکټونه دننه په هیواد کې.

خورا کوچنئ کتله( یا بهتره ډکی): اوږدوالی 15 cm ، سور 11 cm ، جګوالی 1 cm .

خورا جګه کتله: اوږدوالی 60 cm ، سور 30 cm ، لوړوالی 15 cm یا اوږدوالی جمعه یې سور جمعه یې یا په ورزیات جګوالی = 90 cm. خورا زیات وزن 2 kg.

الف- د یوه ډکي یاحجم $V = 21\ dm^3$ لپاره د سور او جګوالي ترمنځ اړیکې وټاکي.

ب- دا ماکسیمال رسیدلوړ ډکی یا حجم څومره لوي دی؟

پنځم: فرمول ورکړشوی دی.

الف- ش څنګه تغیر خوري، که کوچنی شي.

ب- ایا لاندې اړیکې به د فرمول له لارې تشریح شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



A : د کرایې موټر ټول لګښت د عدد a د تللی کیلو متر او د هغه د یوه کیلو متر د قیمت c لپاره.

B : د ودرېدلو لار یا واټن a د بریکلارb او عکس العمل لارc څخه شمیرل کیږي.

پ-شي اړیکې ورکړئ چې د فرمول له لارې تشریح کیدی شي یا روښانه کیدی شي.

شپږم: یو ولاړګوډیز یا مستطیل U = 12 cm چاپیریال یا محیط لري.

الف- اړخونه څنګه یو د بل په واک کې کیدی شي.

ب- یو ترم وټاکئ، چې بلواکوالی د اړخ a څخه ورکوي یا د اړخ a په واک کې یا تابع دی.

پ- د a د کوم ارزښت لپاره سطحه خورا لویه وي؟

## پوښتنې

## توابع III

لومړی: توابع f(x) ورکړ شوي. یو مناسب ارزښتجدول وکاږئ. دې ته ا ړوند ګراف رسم کړئ.

الف - $f(x)=\frac{1}{2}x+1$ ب - $f(x)=x^2$ پ - $f(x)=\frac{1}{x+3}$ ت- $f(x)=3^x$

دویم: فکر وکړئ، چې ایا یو ،،یواځنی نیظم،،د $x \rightarrow y$ لپاره مخ ته لرو: $x^2+y^2=1$

دریم: ټکی P ورکړ شوی دی. ایا یوه تابع مخ ته لرو؟ که هو، نو نظمقانو وټکئ او خورا لویه تعریفسټ یا – ډېرئ هم وټاکئ.

$$P=\left\{(2|1);\left(5|\frac{1}{4}\right);\left(10|\frac{1}{9}\right);\left(25|\frac{1}{24}\right);.....\right\}$$

څلورم: یو ارزښتجدول ولیکئ او د تابع ګراف وکاږئ:

$$f(x)=\frac{1}{8}\left(x^3-2x-4\right);\ x\in\mathbb{R}$$

الف- د جبشمیري سره f ( 3 ) او f ( - 2 ) وشمیرئ.

ب- په کوم ځای کې د تابع ارزښت صفر دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ-د کومو x -ارزښتونو لپاره تابعارزښت 1 دی؟
ت-د کومو x -ارزښتونو لپاره تابعارزښت کمیز یا منفي دی؟
ټ-د کومو x -ارزښتونو لپاره باور لري: $f ( x ) < 1$ کړئ، چې د کوم تابع لپاره باور لري:

پنځم: د درې توابعو f1, f2, f3 ګراف ورکړ شوی دی. پرېکړه وکړئ:

| | |
|---|---|
|  | الف- د تابع ارزښتونه هر چیرته صفر دي.<br>ب- توابع په انټروال [ 0,5 ; 1 ] منفي یا کمیز دي<br>پ-. $f ( 2 ) < f ( 0 )$<br>ت-. $f ( 0 ) = - 1$<br>ټ-. $f ( - 2 ) = f ( 2 )$ |
|  |  |

پوښتنې

توابع **IV**

لومړی: تابع f ورکړ شوې د $f(x) =-0,2(2-x); x€R$ سره

پرېکړه وکړئ، چې ایا لاندې وېناوې رښتیا او که نارښتیا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيل ځواب مدلل کړئ.

الف- د تابع ارزښتونه زياتيز يا مثبت دي د ټول x – ارزښتونو لپاره.

ب- $f(x) < 0$ د ټولو x€R لپاره.

پ- $f ( x )$ د $x = 2$ لپاره منفي دی.

ت- يو ځای u شتون لري، چې د هغه لپاره $f ( u ) = f ( u + 1 )$ باور لري.

| | |
|---|---|
| دويم: د رسم شوي تابعګراف تلنه تشريح کړئ. دلته هغه غوره ټکي په نخښخه کړئ. هغه ټکي، انتروالونه روښانه کړی يا تشريح کړئ په کومو کې چې ته اقتصادي پسمنظر(د شاته پراته دليل ) فرمولبندي کوې. | <br>کواورديناتسيستم کې : پروت: وخت. ولاړ: ګټه |

دريم: د يوه موټر د تيلو سوزول د چټکتيا په واک کې يا تابع دی. دا په ښنګ کې ښيره د تيلو سوزول ښايي په ليتر په سل کيلو متر کې او د چټکتيا په واکوالي کې، که سرې په څلورم ګير Gang کې لاړ شي.

| | |
|---|---|
|  | الف- کږه يا منحني روښانه کړه.<br>ب- په کومه چټکتيا کې استعمال ۶ ليتره په سل کيلومتر کې دی؟<br>پ- په کومه چټکتيا کې د تيلو سوزښت خورا کم دی؟<br>ت- کږه به ښنګه وځغلي، که په دريم ګير کې سړی لاړ شي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم: د لمبا په ډنډ کې $40\ m^3$ اوبه دي. دا اوبه د ډنډ د پاکوالي له امله د پمپ کولو سره وباسي، چې په دقيقه کې 350 Liter ليتره اوبه وځي.

الف- يو ترم د پاتې حجم يا ډکي لپاره په $m^3$ وټاکئ.

ب- څومره $m^3$ د ۲۰ دقيقو وروسته په لمباډنډ کې لا پاتې ي.

## پوښتنې

## توابع V

لومړی:د تابع $f(x)$ماکسيمال تعريفورشو $D_{max}$ پيدا کړئ

الف- $f(x) = 2 - 3x$ ب - $f(x) = \sqrt{2x-3}$

ث- $f(x) = \dfrac{2x+1}{x-1}$ ت - $f(x) = -x^2 + 1$

دويم: د تابع $f(x)$ ارزښتورشو وټاکئ د $D = D_{max}$ سره.

الف- $f(x) = \dfrac{3}{2}x - 4$ ب - $f(x) = 1 + \sqrt{x+1}$

پ - $f(x) = \sqrt{4 - x^2}$ ت - $f(x) = x^2 - 5$

دريم: تابع $f(x)$ ورکړ شوې ده. ماکسيمال تعريفورشو $D_{max}$ وټاکئ. د $f(x)$ګراف وکاږئ.

د $x \in \left\{k\,;\, -\dfrac{2}{k}\,;\, k+1\,;\, k-4\right\}$ لپاره تابعارزښتونه وټاکئ.

الف- $f(x) = \dfrac{1}{2}x + 1$ ب - $f(x) = 2x - \dfrac{2}{x}$ پ - $f(x) = x - x^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت - $f(x)=\frac{1}{x+3}$ ټ - $f(x)=\sqrt{4-2x}$ ث - $f(x)=2^x-1$

خلورم: تابع $f(x)$ د $f(x)x^3$ سره ورکړشوې ده.

الف- ماکسیمال تعریفورشو D او ارزښتورشو W ورکړئ.

ب- د کوم $x\in D$ لپاره باور $f(x)=81$ لري؟

پ-د کوم $x\in D$ لپاره باور $f(x)\geq 9$لري؟

ت- و ښایئ: $f(x+1)=3.f(x)$ د ټولو $x\in D$ لپاره.

پنځم: تابع $f(x)$ د $D = IR$ لپاره تعریف ده. د رسمونو څخه ارزښت ډېرئ وښایئ.




## پوښتنې

## توابع VI

لومړی: د تابع$f(x)$ ارزښتښت د جبشمیري سره وشمیرئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

$$f(x)=\frac{1}{10}x^4-\frac{2}{5}x^3-2$$ د D=R سره.

دويم:

| | |
|---|---|
|  | دويم: ترڅنګ کړه د تابع f(x) ګراف دی؟ <br> ايا f(x) د ټولو x€R لپاره تعريف دی؟ <br> د x د کومو ارزښتونو لپاره تابع ارزښت <br> - له 2 لوي دی؟ <br> - له صفرکوچنی دی؟ |

دريم:

| | |
|---|---|
|  | يوه مربع يا څلورې د اړخ اوږدوالي <br> a = 5 cm سره ورکړ شوې ده. <br> د مثلث يا درېګوديABC د سطحي ترم A(x) وټاکئ |

څلورم: د يوه مالک ټول لګښت K د يوه لاسته راوړنې سټ x په واکوالي کې په سټ واحد يا ډېرئ يوون (ME) د ترم له لارې ليکل کيږي

$$K(x)=0{,}01x^3-x^2+100x+720$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- د x -ارزښتونو لپاره تر 100 پورې ټول لګښت وشميرئ. يو مناسبتلنلارې ډول وټاکئ او د ټول لګښت ليدخيره رسم کړئ.

ب- د هر ستې – يا ډېرې واحد خرڅلاو99 پيسپواحده دی. لاس ته راونې (د پيسو ) څومره دي، که x( ME د ستې واحد) په بازار کې خرڅ شي؟

په لرلي کواورديناتسيستم کې د خرڅلاو(پيسو) د ليدلو ځيره و کاږئ.

پ-د ليدځيرې څخه ولولئ:

په کومه ورشو يا ساحه کې ګټه منځ ته راځي؟ د کوم x –ارزښتونو سره به خورا لويه ګټه لاس ته راشي؟

## پوښتنې

## VIIتوابع

لومړی: توابع f(x) ورکړشوي دي. يو مناسب ارزښت جدول جوړ کړئ. له دې سره اړوند ګراف وکاږئ.

الف- $f(x) = \frac{1}{2}x + 1$ ب- $f(x) = x^2$

دويم: کوم ګراف په تابع $f : x \to f(x)$ پورې اړه لري؟ دليل يې راوړئ.

| الف- | ب – |
| --- | --- |
| |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library






دریم:د شمیرپو هنیز لنډ لیکدود سره یې فرمولبندي کړئ.

الف- په ځای3 کې تابع f(x) تابعارزښت 12 لري.

ب- د تابع f(x) له لارې د x -ارزښت سره عدد 4- تنظیمیږي.

پ-ټکی ( 5 | 2 ) P د f(x) په لیدخیره باندې پروت دی.

ت- f(x) د کومو ابسخیزا یا پراته ارزښتونو لپاره تابع ارزښت 4 لري.

ټ- د f(x) تابع تابع ارزښت له 7لوی دی د ټول $x \in \mathbb{R}$. لپاره.

ث- تابع f(x) د 17- ځای کې تا بع ارزښت 9 نیسي.

ج- توابع f او g د په ځای کې همغه ارزښت غوره کوي.

چ- په کوم ځای x کې fد تابعارزښت gد له تابعارزښت څخه کوچنی دی؟

ح- د تابع f(x) د تابع ارزښت برابر 5 دی د ټولو $x \in \mathbb{R}$. لپاره.

خ- د یوه کږې ټکي $K_f$ کواوردیناتونه سره سر خوري.

څلورم: د یوه نظم لپاره د یوې روځنۍ بیلګې نوم واخلئ، چې هغه تابع وي یا تابع نه وي.

پنځم: دا ترڅنګ کږه یا منحني د تابع f(x) ګراف دی. له ګراف څخه ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






الف-د تابع ارزښت په ځای 5 کې

ب- يو ځای د f(x) سره.

پ-په کوم ورشو $f(x) > 0$ باور

لري؟

شيپږم:کوم ارزښت جدول يوه تابع پوري اړه لري؟

الف -

| x | −1 | 0 | 1 | 2 | 3 |
|---|---|---|---|---|---|
| y | 4 | 0 | −2 | 4 | 4 |

ب -

| x | −1 | 0 | 3 | 3 | 4 |
|---|---|---|---|---|---|
| y | 8 | 7 | 2 | 4 | 5 |

# توابع او په څټ - يا معکوس توابع

تولیز:

د f د نظم قانون د تابع مساوات له لارې افاده کيږي، لکه د بیلګې په توګه

$$f = \{(x|y)\,|\,y = f(x) = 2x + 3\}_{D\times W}$$

يا په لنډه توګه: $y=f(x)=2x+3$

د يوه تابع د يو-يواځنوالي د $f^{-1}$ يو-يواځنی نظم هم شتون لري.

دا نظم معکوس تابع يا په څټ تابع يا انورز inverse تابع بلل کيږي، لکه د بیلګې په توګه.

$$y = f^{-1}(x) = \frac{x}{2} - \frac{3}{2}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library






## د کرښیز توابعو معکوس توابع

| | |
|---|---|
| تابع:<br>$y = f(x) = 2x + 3$<br>$x = f(y) \Leftrightarrow x = 2y + 3$<br>$\Leftrightarrow 2y + 3 = x \mid -3$<br>$\Leftrightarrow 2y = x - 3 \mid : 2$<br>$\Leftrightarrow y = \frac{x}{2} - \frac{3}{2}$<br>معکوس تابع:<br>$y = f^{-1}(x) = \frac{x}{2} - \frac{3}{2}$ | تابع $y = f(x) = 2x + 3$ ورکړ شوی<br>غوښتنه معکوس تابع $f^{-1}$ او د هغه ګراف ده<br>تابع **f** جګوالی $m = 2$ لري. دا د خپل ګراف سره پروت محور په ټکي $P_x(-1,5 \mid 0)$ کې غوڅوي او ولاړ محور یا اوردینات په ټکي $P_y(0 \mid 3)$ کې غوڅوي. د هغه ګراف کرښه ده.<br>که د تابع اووښتوني یا متحولې یو له بل سره بدلې شي او د $y$ پسې په ورته توګه بڼه بدلون منځ ته راشي، نو سرې معکوس تابع لاس ته راوړي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



<table>
<tr>
<td>د معکوس تابع ګراف د تابع د ګراف هندارونه(انعکاس) ده په $45^0$- محور باندې.<br><br>په تولیزه توګه باور لري:<br>$y = f(x) = a_1 x + a_0$ تابع<br><br>معکوس تابع<br>$$y = f^{-1}(x) = \frac{1}{a_1} x + \frac{a_0}{a_1}$$<br>د ساده والي له امله معکوس تابع u(x) بولو.</td>
<td><br></td>
</tr>
</table>

# مربع توابع

## څلورۍ- یا مربع توابعو ته ننوتنه یا پیل

ننوتنه یا پیل

هرڅوک چې موټر زده کوي، باید پوه وي، جې د بریک په وخت کې په پاخه سرک د بریک نیولو او د موټر دریدځای په منځ کې لار یا واټن څنګه سره یوځای کیدی شي یا جمعه کیدی شي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاندي موټر قانون سره سم له چټکتیا( سرعت) v په km/h ( کیلومتر په ساعت ) د عکس العمل لار r د بریک لار b په متر شمیرلکیدی شي.

پام ( خبراوسه) : د بیلګې په توګه د المان پخوانی او له څخه نوي قانون.

له څخه د تملار په وچ اسفالت شوي سرک د پل بریکلار سره شمیرل کیږي.

د بریک لار $b = \left(\frac{v}{10}\right)^2$ د عکس $r = \frac{v}{10} \cdot 3$ العمل لار

یادونه: د څه وخت را په دې خوا په جرمني کې د بریکلار لپاره دا فرمول باور لري.:

$$b = \frac{1}{2} \cdot \left(\frac{v}{10}\right)^2$$

د بریک همدا ډول د عکس العمل لار په متر (m) راوځي، که چټکتیا یا سرعت په کیلومتر په ساعت (km/h)وي.

الف – د دوارو حالتونو لپاره د s = f(v) تابع مساوات و ټاکی ، د کوم لپاره چې په هره تللي چټکتیا یا سرعت تملار شمیرل کیدی شي.

ب - د تابع مشاوات s = f(v) د دوارو حالتونو لپاره د وهل شوی سرعت v = 0, 10, 20, 30, ... 100 km/h سره د ه یوه د ودرېډ - یا توقف لار چې شمیرل کیږي.

پ : په کواوردیناتسیستم کې یا د وضعیه قیمتسیستم کې ګراف رسم کړی.

ت: ټوله لاس ته راوړې نتیجه تشریح کړی.

Problemlösung: د پرابلم حل:

الف: د تابع مساوات:

| | |
|---|---|
$$P_2(4\mid6) \Rightarrow f(4) = 6 \Leftrightarrow 1 \cdot 4 + a_0 = 6 \mid -4 \Leftrightarrow a_0 = 2 \Rightarrow f(x) = x + 2$$

بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فزيک څخه پوهيږو چې د حرارت معلومولو ( ګرمی کچونې) لپاره مختلفې دد حرارت سکالا کارول کيږي. د څلزيوس سکالاCelsiusskala او د فارنهايټ سکالا Fahrenheitskala

د دواړو ترمنځ کرښيزې اړيکې موجود دي.

$100\ ^0C$ برابری دي د $212\ ^0F$ سره . $0\ ^0C$ برابر د ی په $32\ ^0F$ سره.

د يوه تابع مساوات غواړو پيداکړو، چې د هغې په مرسته $^0C$ په $^0F$ اړول کيږي.

خپلواکه متحوله x په $^0C$ او بلواکه يا تابع متحوله $y = f(x)$ په $^0F$ .

جګوالی:

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{212-32}{100-0} = \frac{180}{100} = \frac{9}{5} \Rightarrow f(x) = \frac{9}{5}x + a_0$$

$$P_1(0\,|\,32) \Rightarrow f(0) = 32 \Leftrightarrow \frac{9}{5}\cdot 0 + a_0 = 32 \Leftrightarrow a_0 = 32$$

$$\Rightarrow f(x) = \frac{9}{5}x + 32$$

په بدل شوی تابع x په C° کې کيږدی نتيجه يې ده.

د بيلګې په دول:

$$x = 20\ ^0C : f(20) = \frac{9}{5}\cdot 20 + 32 = 68 \Rightarrow 20\ ^0C \triangleq 68\ ^0F$$

د دويم حالت لپاره هم کيدی شي شميرنه په ټوليزه توګه مخ ته بوتلی شی:

دوه ټکی $P_1(x_1\,|\,y_1)$ او $P_2(x_2\,|\,y_2)$ په يوه کرښه پراته دي.

د مساواتو عمومي بڼه ده:. $f(x) = a_1x + a_0$.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګوالی:
$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \Rightarrow f(x) = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x + a_0$$

$$P_1(x_x \mid y_1) \Rightarrow f(x_1) = y_1 \Leftrightarrow \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x_1 + a_0 =$$
$$= y_1 \mid - \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x_1 \Leftrightarrow a_0 = y_1 - \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x_1$$

$$\Rightarrow f(x) = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x + y_1 - \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x_1 =$$

$$= \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x - \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \cdot x_1 + y_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}(x - x_1) + y_1$$

$$f(x) = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}(x - x_1) + y_1$$

دا په دوه ټکو کې د کربنيزړومساواتو یو تولیزه بڼه ده .

په زیاتو ادبیاتو کې په لاندې ډول ده:

$$\frac{y - y_1}{x - x_1} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} \; ; x_1 \neq x_2$$

چیرته چې $y = f(x)$ باور لري.

د عملي کاروني لپاره لاندې بڼه مساعده ده:

$$f(x) = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}(x - x_1) + y_1$$

بیلګه:

$P_1(2 \mid -1); P_2(-3 \mid 2)$ په $f(x) = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}(x - x_1) + y_1$ کې ځای په ځای کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x)=\frac{2-(-1)}{-3-2}(x-2)+(-1)=\frac{2+1}{-5}(x-2)-1=-\frac{3}{5}(x-2)-1=-\frac{3}{5}x+\frac{6}{5}-\frac{5}{5}$$
$$=-\frac{3}{5}x+\frac{1}{5}\Leftrightarrow f(x)=-\frac{3}{5}x+\frac{1}{5}$$

تمرین:

د $^0F$ په $^0C$ باندې شمیرنې لپاره یو تابع مساوات ولیکئ

## 2.2.3.تمرین: د تابعمساواتو شمیرنه

یو کرښیز مساوات د $a_1$ جګوالی لري او د P له ټکي تیریږي.

د$f(x)$ تابعمساوات معلوم کړئ او د محورونو قاطع ټکي یا غوڅټکي او ګراف انځور کړئ

اول - $P(2|-2)$ $a_1=\frac{1}{2}$ دویم - $P(-1|3)$ $a_1=\frac{3}{4}$

دریم - $P(3|-1)$ $a_1=2$ څلورم - $P\left(\frac{3}{2}\middle|4\right)$ $a_1=\frac{4}{5}$

یوه کرښه له ټکو$P_1$ او $P_2$ تیریږي.

د$f(x)$ تابع مساوات پیدا کړئ او د محور قاطع ټکي او ګراف رسم کړئ.

پنځم - $P_2(5|4)$ $P_1(2|1)$ شپږم - $P_2(2|3)$ $P_1(-3|-2)$

اوم - $P_2(4|-1)$ $P_1(-2|3)$ اتم - $P_2(3|1)$ $P_1(-4|-1)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم - $P_2(4\mid -1)$ $P_1\left(-3\mid \frac{9}{2}\right)$ لسم - $P_2\left(\frac{7}{2}\mid 4\right)$ $P_1(-4\mid -2)$

## . د کرښبرابروتو ځانګړی حالت:

| | |
|---|---|
| د x- محور سره غبرګ کرښه: $f(x) = a_0 ; a_0 \in \mathbb{R}$ یو د 0 درجې تام راشنل تابع ده او ثابته تابع هم بلل کیږي. x- محور هم یوه ثابته تابع ده د تابع مساوات $f(x) = 0$ سره. د ثابتې تابع جګوالی تل صفر دی. |  |

| | |
|---|---|
| د y- محور سره غبرګه. $x = a ; a \in \mathbb{R}$ کرښه د محور سره غبرګه (موازي) ځغلي. دا د یوه تابع مساوات سره نه شي لیکل کیدی، ځکه چې یواځنۍ تنظیم نه شته یعني تابع نه ده. $x = 0$ دy - محور مساوات دي. |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه:

یو $f(x) = 2,5$ ور کړ شوی او y- محور سره موازي دa واټن د $a > 0$ سره.

یوه سرچینییزه کرښه g د( $P(a \mid f(x))$ ټکي څخه تیریږي.

دا دx - محور او د y- محور سره غبرګې کرښې سره یو مثلث جوړوي.

a داسې وټاکۍ چې وسطحه د سطحې څلور واحدونه (یوونونهFE) جوړ کړي. د دې حالت لپاره د(g(x تابع مساوات څنګه دي؟

<table>
<tr>
<td>




</td>
<td>

$A = \frac{g \cdot h}{2}$ د $g = a$ او

$h=f(x) = 2,5$ سره

د مثلث سطه $\Rightarrow A = \frac{2,5 \cdot a}{2} = \frac{5}{4}a$

$A = 4 \Leftrightarrow \frac{5}{4}a = 4 \mid \cdot \frac{4}{5} \Leftrightarrow a = \frac{16}{5}$

(ځکه چې د سرچینې کرښه $g(x) = a_1 x \ (a_0 = 0$

د جګېدو له مثلث څخه $a_1 = \frac{5}{2} : \frac{16}{5} = \frac{25}{32}$

د تابع مساوات : $g(x) = \frac{25}{32}x$

</td>
</tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمرين: د $^0F$ بدلون شميرنه په $^0C$ لپاره د تابع مساوات وليکئ

حل :

د $^0C$ اړونه يا بدلون په$^0F$ د متحولې لپاره دا معنا لري:

x په $^0F$ مستقله يا خپلواکه متحوله ده او $y = f(x)$ په$^0C$ بلواکه يا تابع متحوله ده.

$$212\,^0F \triangleq 100\,^0C \Rightarrow P_1(212\,|\,100) \quad \text{او} \quad 32\,^0F \triangleq 0\,^0C \Rightarrow P_1(32\,|\,0)$$

دا چې د حرارت الو ترمنځ يوه کرښيزه اړيکه پرته ده، نو ټکي $P_1$ او$P_2$ په يوه کرښه پراته دي.

د کرښي عمومي کرښيزه بڼه په دې ډول ده:.$f(x) = a_1x + a_0$

دلته ضريبونه $a_1$ او $a_0$ د ټاکلو دي.

جګوالی:
$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{100 - 0}{212 - 32} = \frac{100}{180} = \frac{10}{18} = \frac{5}{9} \Rightarrow f(x) = \frac{5}{9}x + a_0$$

ټکي ازمايښت د $P_1(32\,|\,0)$ سره.

$$\Rightarrow f(32) = 0 \Leftrightarrow \frac{5}{9}\cdot 32 + a_0 = 0 \Leftrightarrow \frac{160}{8} + a_0 = 0\,|-\frac{160}{9} \Leftrightarrow a_0 = -\frac{160}{9}$$
$$\Rightarrow f(x) = f(x) = \frac{5}{9}x - \frac{160}{9} = \frac{5}{9}(x - 32)$$

د $^0F$ اړونې په $^0C$ لپاره باور لري.

$$^0F \text{ in } ^0C \text{ gilt: } f(x) = \frac{5}{9}(x - 32)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



x په $^0F$ او y په $^0C$ .

پوښتنې:

## کرښيزي توابع III

لومړی: د g کرښو مساوات وټاکئ

الف: $P_1(-4|-2)$ او $P_2(2|0)$ په g پراته دي،

ب- g په $P_1(-3|1)$ او $P_2\left(1|\frac{11}{3}\right)$ کې ځغلي

پ- $P_1(1|-2)$ او $P_2(-2|10)$ په g پراته دي

ت- g محورونه په x = 2 او y = 6 کې غوڅوي( قطع کوي)

ټ- g له P(-6;1)) تيرېږي او له h سره غبرګ دی د $h(x) = -\frac{2}{3}x + 2$ مساوات سره

ث- g جګوالی $a_1 = -4{,}5$ لري او له P(1;1,5) څخه تيرېږي.

ج- g جګوالی $a_1 = 3$ لري او له P(1;,1,5) څخه تيرېږي

چ- g دx محور په x = 3 کې غوڅوي او د hکرښه د h(x) = 4x - 2 سره په x = -1 کې غوڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: د دوه کرښو g او h کرښیز مساوات پیدا کړئ، چې له ټکی P(3;-2) تیریږي.

دریم: یوه کرښه g د کرښیز تابع f(x) سره پیدا کړئ، چې له ټکو $P_1$ او $P_2$ تیریږي او تابع مساوات وټاکئ.

الف- $P_1(-3\,|\,5)\,;\,P_2(1\,|\,2{,}5)$ ب - $P_1(1{,}5\,|\,3)\,;\,P_2(3\,|\,2{,}5)$

پ- $P_1(k\,|\,3)\,;\,P_2(2k\,|\,-1)$ ت - $P_1(4\,|\,0)\,;\,P_2\left(-1\,|\,-\sqrt{2}\right)$

ټ - $P_1\left(2\sqrt{k}\,|\,\sqrt{2k}\right)\,;\,P_2\left(\sqrt{k}\,|\,0\right)$ ث - $P_1(1\,|\,0)\,;\,P_2(-1\,|\,k+1)$

څلورم: د f(x) کرښیزې تابع مساوات وټاکئ.که معلوم وي:

الف-کرښه د $a_1 = \frac{5}{4}$ جګیدني سره له P(4;-1) څخه تیریږي.

ب-کرښه له ټکو $P_1(-5\,|\,-3)$ او $P_2(0\,|\,3)$ څخه تیریږي.
پ-کرښه له P(4,5;2,7) ټکي تیریږي. او د x محور سره 45° مایله ده.

ت-کرښه له P(-1,5;0) تیریږي او د h(x) = 2x+2 سره غبرګه ( موازي) ده.

پنځم: کر ښه g و کاږئ او کرښیز مساوات وټاکئ.

الف- $P(3\,|\,-1) \in g$ او g دy محور سره غبر؛( موازي) څغلي.

ب- $P(3{,}5\,|\,2{,}5) \in g$ او g دx محور سره موازي څغلي.

پ- g له P(-5;1)تیریږي او د $h(x) = -\frac{1}{2}x + 4$ سره موازي ده.

ت- g له $P\left(1\,|\,\frac{3}{2}\right)$ تیریږي او د کرښو سره چې له ټکو $P_1(-2\,|\,-3)$ او $P_2\left(\frac{3}{2}\,|\,-5\right)$ تیریږي، موازي څغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوښتنې

## کرښيز مساوات VI

لومړی –

د لاندې کرښيزو توابعو ګرافونه و کاږی او د ارزښت سټ يا – دېرى W و ټاکى

الف- $f(x) = -2x + 2;\ D = \{x | -3 \le x \le 5\}_{\mathbb{R}}$

ب - $f(x) = \frac{1}{2}x - \frac{3}{4};\ D = \{x | -4 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

پ - $f(x) = \frac{3}{4}x - 3;\ D = \{x | -2 \le x \le 6\}_{\mathbb{R}}$

ت - $f(x) = 3x - 6;\ D = \{x | -1 \le x \le 3\}_{\mathbb{R}}$

دويم –

ټکی $P_1$ او $P_2$ ورکړ شوي، چې په کرښه پراته دي. د f (x) تابعمساوات پيدا کړی او ګراف يې وکاږی

الف- $P_1(3 | 4);\ P_2(7 | -1);\ D = \{x | 0 \le x \le 7\}_{\mathbb{R}}$

ب - $P_1(-8 | 1);\ P_2(2 | -3);\ D = \{x | -8 \le x \le 2\}_{\mathbb{R}}$

پ - $P_1(4 | 3);\ P_2(-7 | -1);\ D = \{x | -7 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

ت - $P_1(-4 | -4);\ P_2(4 | 2);\ D = \{x | -4 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

دريم –

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاندې مساواتو حلسټ یا حلډېرۍ پیداکړئ. مساوات چې کسرې راشنل ترمونه ولري، باید د هغو تعریفورشو هم ورکړل شي.

الف- $x-5=9$ ب - $8+x=25$ پ - $x-\frac{2}{3}=\frac{3}{4}$ ت - $\frac{5}{9}=x-\frac{1}{3}$

ټ - $88=4x-16$ ث - $a+bx=3b+a$ ج - $8-(x+5)=2$

چ - $9+(5-x)=6$ ح = $(x-6)(x+3)=(x-5)(x-2)$ - خ

خ - $(x+3)(x+7)=(x+2)(x+9)$ $\frac{x}{4}+\frac{5x}{6}+\frac{5}{6}=\frac{x}{2}+x$

ځ - $\frac{3}{2x}+\frac{2}{3x}=\frac{1}{9}+\frac{7}{3x}$ د - $\frac{ax}{b}-\frac{b}{ac}=\frac{a}{bc}-\frac{bx}{a}$ ډ - $\frac{x}{a-b}+\frac{x}{a+b}=a$

ذ- $23a-\{5ax-[9ax+(12a-6ax)]-(3a-8ax)\}-15a=5ax-7a$

څلورم:د لاندې توابعو د محورونو سره د تقاطع ټکي هم پیدا کړئ.

الف- $f(x)=2x-7$ ب - $f(x)=-2x+6$ پ - $f(x)=3x-3$

ت - $f(x)=2x+\frac{2}{3}$ ټ - $f(x)=\frac{3}{4}x+2$ ث - $f(x)=-\frac{3}{4}x+\frac{4}{5}$

ج - $f(x)=3{,}5x+\frac{1}{2}$ چ – $f(x)=-2{,}5x+2\frac{1}{2}$ ح - $f(x)=1\frac{3}{4}x-3\frac{2}{3}$

پنځم: د یوې کرښې دوه ټکي $P_1$ او $P_2$ ورکړ شوي د لاندې توابعو له I تر IV لپاروه وټاکئ:

I. $P_1(3\mid 4);P_2(7\mid -1);D=\{x\mid -2\le x\le 8\}_{\mathbb{R}}$

II. $P_1(-8\mid 1);P_2(2\mid -3);D=\{x\mid -8\le x\le 2\}_{\mathbb{R}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



III. $P_1(4 \mid 3);\ P_2(-7 \mid -1);\ D=\{x \mid -8 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

IV. $P_1(4 \mid 2);\ P_2(-4 \mid -4);\ D=\{x \mid -4 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

الف- د جګیدنې ضریب m.

ب - د کرښې تابعمساوات

پ - د y محور سره د تقاطع ټکی $P_y$

ت - د تقاطع ټکی $P_y$ د x محور سره

ټ - په W باندې ارزښتډېری W.

ث - په D کې د تابع ګراف

شپږم: لاندې مساواتسیستمونه حل کړی:

الف- $\begin{cases} \text{I} & 5y-3x=1 \\ \text{II} & x=y+1 \end{cases}$ ب - $\begin{cases} \text{I} & 4x+5y=32 \\ \text{II} & y=5x-11 \end{cases}$ پ - $\begin{cases} \text{I} & 15y-4x=-50 \\ \text{II} & x=y+7 \end{cases}$

ت - $\begin{cases} \text{I} & 3x=y+15 \\ \text{II} & 2y-10=2x \end{cases}$ ټ - $\begin{cases} \text{I} & 2y=2x-40 \\ \text{II} & 3x=10-2y \end{cases}$ ث - $\begin{cases} \text{I} & x+y=a+b \\ \text{II} & x-y=a-b \end{cases}$

## پوښتنې

## IX کرښیز مساوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی:کرښه g له ټکو P1(4;-3,5) او P2(2,5;-1) تیرېږي.

کرښه h له ټکو $P_3(5|2,5)$ او $P_4\left(\frac{3}{2}\Big|\frac{25}{3}\right)$ تیرېږي.

ګرښې یو بل ته څه موقعیت لري یا څنګه پرتې دي؟

دویم:د f(x) کرښیزې تابع د تابع ترم او ارزښتساحه(ارزښتورشو) و ټاکئ، که صدق ولري:

الف- $f(0) = 20 ; f(12) = 32 ; x > 0$ ب- $f(-3) = 6 ; f(2) = -8 ; x \in [-3 ; 3]$

دریم:

د f(x)کرښیزې تابع ګراف په 3 LE اوږدوالی واحده کینې لور

ته خوزیږي. د راکښل شوې کرښې د f*(x) مساوات څنګه دي؟

$$f(x) = \frac{5}{3}x - 2 \quad D = \mathbb{R}$$

څلورم: د f(x) او g(x) توابع ورکړ شوې دي. د کوم ارزښت لپاره f(x) > g(x) صدق کوي؟

$$f(x) = 2x - 3 \quad ; \quad g(x) = -0,5x + 1 \quad x \in \mathbb{R}$$

پنځم: یوه g(x)کرښه ورکړ شوې.. دا د یوې کرښې h(x) له خوا قطع کیږي. د h(x)مساوات وټاکئ، که باور ولري: $g(x) = -3x + 2$

الف- قاطع یا غوڅی دx محور سره . ب - قاطع(غوڅی) په x = -5 کې

شپږم:

| | |
|---|---|
| یوه د پیل کرښه د $a_1 = -0,125$ جګوالي سره و داسی کښنول کیږي. چې کرښه h د مساوات | ; $h(x) = -1,5(x-2)$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| سره د x په محور قطع کوي.<br>راکښنه تشریح کړئ او د راکښل شوې کرښې ګراف و کاږئ. | |

اوم: یوه f(x) کرښیزه تابع ورکړ شوې. کرښه د x = u مساوات سره د f(x) ګراف په P کې قطع کوي او د x محور په Q کې قطع کوي. یوه سکیڅې ترتیب کړئ.

الف- د P او Q کواوردینات وټاکئ، که f (x) = 0,75x + 2 وي.

ب- د u د کوم ارزښت لپاره P د x محور پورته لور ته پرته ده.

ت- P( u | f(u) ) په 1 څلورئ یا ربع کې پروت دئ. R ( 0 | 0), Q او P د یوه مثلث رآسونه ( ککرټکي)جوړوي. د دې مثلث د مساحت A لپاره ترم وټاکئ. u (محیط) داسې وټاکئ، چې A(u) = 10 صدق وکړي.

اتم: د g کرښې ته موازي او عمود مساوات داسې وټاکئ، چې له P ټکي تیر شي.

الف- $g: x + 2 - 3y = 0 ; P(0 | 3)$ ب- $g(x) = \frac{2}{3}x - 3 ; P(1 | 4)$

پ - $g(x) = -1,5kx ; P(1 | 0)$

نهم: کرښه g له ټکو $P_1$ او $P_2$ تیریږي. د h کرښې ته یې ځای مطالعه کړئ او د امکان په حالت کې یې د قاطع ټکئ معلوم کړئ.

$P_1(-1 | 1,5) ; P_2(-2 | -2,5) \qquad h: \ -x - 6 - 4y = 0$

لسم: و ښایئ: کرښه g او کرښه h عمود دي.

$g: \ y - \sqrt{2}x = 1 \qquad h: -2y - \sqrt{2}x + 6 = 0$

$g(x) = -3x + 2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



یولسم:

| | |
|---|---|
| د $A, B$ او $C$ ټکي د یوه مثلث د رآس ټکي دي. د$k > 0$ د کوم ارزښت لپاره دا مثلث قایم الزاویه ( ولاړګوډیز ) دی؟ ( ښی رآس په $C$ پروت دی) | $A\left(\sqrt{3k} \mid \frac{k}{3}\right); B\left(-\sqrt{3k} \mid \frac{k}{3}\right); C(0 \mid k)$ |

# پوښتې

## کرښیز توابع XI

لومړی-

$$f_1(x) = \frac{1}{4}x + 2\frac{1}{4}; f_2(x) = -4x - 2; D = \{x \mid -9 \le x \le 0\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه له تابع $f_1(x)$ سره د دویمې کرښې د تابع$f_2(x)$ سره غوځیږي. وټاکئ:

الف – د کواوردیناتونو $x_s$ او $y_s$ سره غوڅټکی $S$ .

ب – د دواړو کرښو غوڅټکي د $y$ محور سره .

پ – د دواړو کرښو غوڅټکي د$x$ محور سره .

ت - د دواړو توابعو ګراف په $D$ کې .

دویم –

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f_1(x) = -\frac{2}{3}x + 4 ;\ D = \{x \mid 0 \le x \le 6\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه له تابع $f_1(x)$ سره په ټکي $S(3 \mid y_s)$ کې د تابع $f_2(x)$ سره له کرښې څخه غوځیږي.

وټاکئ:

الف-د S پوره کواودینات

ب-تابع $f_2(x)$.

پ-د دواړو کرښو غوځټکي د کواوردینات محورونو سره.

ت-په D کې د دواړو توابعو ګراف.

دریم:

$$f_1(x) = -\frac{3}{8}x + 1;\ D = \{x \mid -7 \le x \le 3\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه د تابع $f_1(x)$ سره په ټکي $S(-4 \mid y_s)$ کې کې له کرښې څخه د تابع $f_2(x)$ سره ، چې پروتمحور په 7- کې غوځوي، غوځیږي.

وټاکئ:

الف – د S پوره کواوردینات.

ب – تابع $f_2(x)$ .

پ – د دواړو کرښو غوځټکي د کواودینات د محورونو سره.

ت – د واړو توابعو ګراف په D کې..

څلورم –

د یوه درېکوڼي یا مثل ټکي $P_1, P_2$ او $P_3$ ورکړ شوي دي. د درېګوڼي د اړخونو تابع وټاکئ. پخوا له دې یو پلان نقشه ترتیب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف-

$$[P_1P_2] \triangleq f_1 ; [P_2P_3] \triangleq f_2 ; [P_1P_3] \triangleq f_3$$
$$P_1\left(-6 \;\middle|\; \frac{3}{2}\right); P_2\left(-2 \;\middle|\; -\frac{3}{2}\right); P_3\,(-4 \mid 3)$$

ب –

$$[P_1P_2] \triangleq f_1 ; [P_2P_3] \triangleq f_2 ; [P_1P_3] \triangleq f_3$$
$$P_1\left(6 \;\middle|\; \frac{3}{2}\right); P_2\left(2 \;\middle|\; -\frac{3}{2}\right); P_3\,(4 \mid 3)$$

پنځم -

$$f_1(x) = \frac{1}{2}x + 3 ; P_2(-2 \mid -3) ; D = \{x \mid -6 \le x \le 0\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه د تابع $f_1$ (x) سره د دویمې کرښې څخه د تابع $f_2$ (x) سره ، چې له ټکي $P_2$ تیریږي ، په ټکي S کې ولاړکونجیزه غوځیږي.

وټاکئ:

الف - د(x) $f_2$ جګوالی $m_2$ .

ب- تابع (x) $f_2$ .

پ – د دواړو کرښو غوځټکی S .

ت - د دواړ کرښو محورغوځټکي.

ټ - د دواړو کرښو ګراف په D کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوښتنې

## کرښیز توابع XII

لومړی -

$$f_1(x) = -\frac{1}{2}x + 3\,;\, P_2(2\,|\,-3)\,;\, D = \{x\,|\,0 \le x \le 6\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه د تابع $f_1(x)$ سره له یوې دویمې کرښې د تابع $f_2(x)$ سره، چې له ټکي $P_2$ تیریږي په ټکي S کې ولاړکونجیزه غوځیږي.

وټاکی.

لومړی:

الف – د $f_2(x)$ جګوالی $m_2$ .

ب – تابع $f_2(x)$ .

پ - د دواړو کرښو غوځټکی S .

ت - د دواړو کرښو د محورغوځټکي.

ټ - د دواړو کرښو ګراف په D کې.

دویم –

د کرښې تابع $f_2(x)$ وټاکی، چې پروتمحور په $P_{x2}$ کې غوځوي او له کرښې څخه د تابع $f_1(x)$ سره په S کې غوځیږي. د واړو کرښو غوځټکي وشمیرئ او د دواړو کرښو ګراف په D کې رسم کړئ.

الف- $f_1(x) = \frac{3}{2}x + 6\,;\, P_{x_2}(-6\,|\,0)$ ، $S\left(x_s\,\middle|\,\frac{3}{2}\right);\, D = \{x\,|\,-6 \le x \le 1\}_{\mathbb{R}}$

ب - $f_1(x) = \frac{1}{2}x - 3\,;\, P_{x_2}(4\,|\,0)$ ، $S(3\,|\,y_s)\,;\, D = \{x\,|\,-1 \le x \le 6\}_{\mathbb{R}}$

دریم -

$$P_1(-5\,|\,5)\,;\, P_2(-1\,|\,-1)\,;\, S(x_s\,|\,2)\,;\, D = \{x\,|\,-6 \le x \le 0\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه د تابع $f_1(x)$ سره له ټکو $P_1$ او $P_2$ تیریږي او په ټکي S کې ولاړکونجیز له کرښې څخه د تابع $f_2(x)$ سره غوځیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکئ:

الف- د $f_1(x)$ جګوالی $m_1$ .

ب – تابع $f_1(x)$ .

پ – دS پوره کواوردینات.

ت – د$f_2(x)$ جګوالی $m_2$ .

ټ – تابع$f_2(x)$ .

ث – د $f_1(x)$ او$f_2(x)$ ګرافونه

څلورم -

$$P_1(5\,|\,5);\, P_2(1\,|\,-1);\, S(3\,|\,y_s);\, D=\{x\,|\,0\leq x\leq 6\}_{\mathbb{R}}$$

کرښه د تابع $f_1(x)$ سره له ټکو $P_1$ او$P_2$ څخه تیریږي او په ټکي S کې ولاړکونجیزه له کرښې د تابع $f_2(x)$ سره غوځیږي.

وټاکئ:

الف – د $f_1(x)$ جګوالی $m_1$ . ب - تابع $f_1(x)$ .

پ - د S پوره کواوردیناتونه ت – د $f_2(x)$ جګوالی $m_2$ .

ټ - تابع $f_2(x)$ . د $f_1(x)$ او $f_2(x)$ ګرافونه.

پنځم -

$$f_2(x)=3x-3;\, S\left(\frac{3}{2}\,\middle|\,\frac{3}{2}\right);\, D=\{x\,|\,0\leq x\leq 6\}_{\mathbb{R}}$$

د تابع $f_1(x)$ ګراف په ټکي S کې د تابع $f_2(x)$ له ګراف څخه ولاړکونجیزه غوځیږي.

وټاکئ:

الف - تابع $f_1(x)$ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب – د دواړو کرښو د محورونو غوڅټکي.

پ – د دواړو توابعو ګراف په D کې.

## پوښتنې

## کرښيزې توابع برخه XIII

لومړی -

$$f_2(x)=\frac{4}{5}x+\frac{9}{10};S\left(2\left|\frac{5}{2}\right.\right);D=\{x\,|\,-1\le x\le 4\}_{\mathbb{R}}$$

د تابع(x) $f_1$ ګراف په ټکي S کې د تابع $f_2$ (x) له ګراف څخه ولاړکونجيز(قايم الزاويه) غوڅيږي.

وټاکی:

الف: تابع (x) $f_1$ .

ب – د دواړو کرښو د محورونو غوڅټکي.

پ – د دواړو توابعو ګرافونه په D کې.

$$g:\quad y-\sqrt{2}x=1 \qquad \Rightarrow g(x)=\sqrt{2}x+1$$

$$h:-2y-\sqrt{2}x+6=0\Rightarrow h(x)=-\frac{1}{2}\sqrt{2}x+3$$

د اورتوګوناليټي شرايط: $a_{1g}=-\dfrac{1}{a_{1h}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a_{1g} = -\frac{1}{-\frac{1}{2}\sqrt{2}} = \frac{\frac{1}{1}}{\frac{\sqrt{2}}{2}} = \frac{1\cdot 2}{1\cdot\sqrt{2}} = \frac{2\cdot\sqrt{2}}{\sqrt{2}\cdot\sqrt{2}} = \frac{2\cdot\sqrt{2}}{2} = \sqrt{2}\ \text{q.e.d}$$

دويم:

د دوه کرښنو توابع $f_1(x)$ او $f_2(x)$ ورکړشوي او د يوې دريمي کرښي جګوالی $m_3$ د تابع $f_3(x)$ سره. تابع $f_3(x)$ داسي وټاکئ، چي ګراف يي د نورو دواړو کرښنو غوښتکي څخه تير شي. د دريواړو کرښنو محور غوښتکي وټاکئ او د دريواړو توابعو ګراف په D کې رسم کړئ.

الف-

$$f_1(x) = -4x - 2\,;\ m_3 = \frac{1}{4}$$

$$f_2(x) = 2x + 4\,;\ D = \{x \mid -9 \le x \le 0\}_{\mathbb{R}}$$

ب –

$$f_1(x) = \frac{1}{4}x + \frac{9}{4}\,;\ m_3 = -4$$

$$f_2(x) = 2x + 4\,;\ D = \{x \mid -9 \le x \le 0\}_{\mathbb{R}}$$

دريم: کرښه دتابع $f_1(x)$ سره له ټکي $P_1$ تييري او له يوې دويمي کرښي چې له ټکي $P_2$ تيريري په ټکي S کي غوځيري. توابع $f_1(x)$ او $f_2(x)$ وټاکئ د هغو محورغوښتکي اوپه D کي يي ګراف وکاږئ.

$$P_1\left(-2 \,\middle|\, \frac{3}{2}\right);\ P_2(3 \mid 5);\ S\left(2 \,\middle|\, \frac{5}{2}\right);\ D = \{x \mid -8 \le x \le 3\}_{\mathbb{R}}$$

څلورم:

$$P_1\left(-1 \,\middle|\, \frac{5}{2}\right);\ P_2\left(-3 \,\middle|\, \frac{11}{2}\right);\ D = \{x \mid -9 \le x \le 3\}_{\mathbb{R}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرښه د تابع $f_1(x)$ سره محور په 8- کې غوڅوي. $f_1(x)$ ته غبرګه یوه دویمه کرښه د تابع $f_2(x)$ سره پروت محور په 4- کې غوڅوي. دواړه کرښې له یوې دریمې کرښې چې تابع $f_3(x)$ لري او له ټکو $P_1$ او $P_2$ تیریږي په ټکو $P_3$ او $P_4$ کې ولاړکونجیزه(قایوم الزاویه) غوڅوي. وټاکئ:

الف- تابع $f_3(x)$ ب - تابع$f_1(x)$

پ – تابع $f_2(x)$ ت – د دریواړو توابعو ګراف په D کې.

پنځم:

$$A\left(-\frac{13}{2}\,\middle|\,-\frac{3}{2}\right);\,B(3\mid 2);\,D=\{x\mid -8\le x\le 4\}_{\mathbb{R}}$$

د یوه قایوم الزاویه مثلث(ولاړکونجیز دریګودي) څخه، چې ولاړ کونج(قایم الزاویه) یې پهC کې پرته ده، ټکي A اوB ورکړ شوي. د مثلث اړخ یا ضلع [BC] د تابع $f_3(x)$ سره د اوردینات یا ولاړ محور په 3 کې غوڅوي.

وټاکئ:

الف- د اړخ [AB] تابع $f_1(x)$ ب- د اړخ یا ضلعې [BC]تابع $f_3(x)$

پ- د اړخ [AC] تابع $f_2(x)$ ت- د ټکي C کواوردیناتونه

ټ په D کې ګرافونه.

پوښتنې

کرښیزې توابع **XIV**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: $A(-8|-6); C(-1|5); D=\{x|-8 \le x \le 2\}_{\mathbb{R}}$

له يوه قايمالزاويه مثلث، چې قايمه زاويه يې په B پرته ده، ټکی A او C ورکړ شوي دي. د مثلث ضلع (اړخ)[BC] د اوردينات محور ( ولاړمحور) په 3کې قطع کوي.

دا وټاکی:

الف-

$[AB] = f_1$ ; $[BC] = f_2$ ; $[AC] = f_3$ د مثلث درې د ضلعو توابع.

ب- د B ټکي کواودينات يا وضعيه قيمت کې د ټکي B محورونه

پ -په D کې ګراف.

دويم:

$A(-4|-1); B(2|-4); D=\{x|-4 \le x \le 5\}_{\mathbb{R}}$

د يوه مثلث ټکيA او B ورکړ شوي دي. د مثلث [BC] ضلع دy محور په 12-کې قطع کوي; ضلع [AC] د x محور په 3- کې غوڅوي.

دا وټاکی:

الف-تابع $f_1$ (x) ضلع .[AB] قطع کوي

ب - تابع $f_2$ (x) ضلع [BC] غوڅوي.

پ - تابع $f_3$ (x) ضلع [AC]

ت - د C ټکي وضعيه قيمتونه

ټ - د D ټکي وضعيه قيمتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم: توابع $y = f(x) = 3x - 4$ او $g(x) = ax + 3$ ورکړ شوي.

د دواړو توابعو ګرافونه په ټکي $S(3 \mid 5)$ کې غوڅوي.

د $h(x)$ تابع مساوات داسې وکاږئ، چې ګراف په ټکي S عمود څغلي. په یوه وضیه قیمتسیستم کې دریواړه ګرافونه رسم کړئ.

څلورم:

$$f_1(x) = \frac{1}{4}x + 2\frac{1}{4}\,;\ f_2(x) = -4x - 2\,;\ D = \{x \mid -10 \le x \le 1\}_{\mathbb{R}}$$

د $f_1(x)$ تابع سره کرښه د دویمې کرښې د $f_2(x)$ تابع سره قطعه کوي.

دا وټاکئ:

الف- د S قاطع ټکی د $x_s$ او $y_s$ کواودینات سره.

ب - د دواړو کرښو د قاطع ټکي د x محور سره.

پ - د دواړو کرښو قاطع ټکي د x محو سره.

ت - د دواړو توابعو ګراف په D کې.

پنځم:

د $g(x)$ تابع ، چې په $f(x)$ عمود ده پیدا کړئ. د $g(x)$ ګراف د y محور په $P_y(0 \mid 3)$ ټکي قطع کوي. دواړه کرښې په یوه وضعیه قیمت سیستم(پروت ولاړ سیستم) کې رسم کړئ.

الف - $f(x) = -2x + 2$ ب - $f(x) = 3x - 6$

پ - $f(x) = \frac{1}{2}x - \frac{3}{4}$ ت - $f(x) = \frac{3}{4}x - 3$

شپږم: د دواړو کرښو غوڅټکی ( نقاط تقاطع) و ټاکئ او ګراف یې وکاږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف - $f_1(x) = \frac{1}{4}x + 2\frac{1}{4}\,;\ f_2(x) = -4x - 2\,;\ D = \{x \mid -10 \le x \le 1\}_{\mathbb{R}}$

ب - $f_1(x) = -2x + 2\,;\ f_2(x) = 3x - 6\,;\ D = \{x \mid -2 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

پ - $f_1(x) = -\frac{2}{3}x + 4\,;\ f_2(x) = \frac{3}{2}x - 2\frac{1}{2}\,;\ D = \{x \mid -1 \le x \le 7\}_{\mathbb{R}}$

ت - $f_1(x) = -\frac{3}{8}x + 1\,;\ f_2(x) = \frac{5}{6}x + 5\frac{5}{6}\,;\ D = \{x \mid -8 \le x \le 4\}_{\mathbb{R}}$

## **n** -مه درجه ټول مات- یا راشنل توابع

**n** -مه درجه ټول راشن لفنکشن

یو تابع $f(x)$د

$$f(x) = a_n x^n + a_{n-1}x^{n-1} + a_{n-2}x^{n-2} + \ldots + a_2 x^2 + a_1 x + a_0$$

سره $n$ -مه درجه ټول راشنل تابع بلل کيږي.

عددونه $a_n\,;\ a_{n-1}\,;\ a_{n-2}\,;\ \ldots\ a_2\,;\ a_1\,;\ a_0$ ضريبونه بلل کيږي.

ټول راشنل یا هوښيار توابع د توان توابعو يوځای ايښوولو له لارې لاس ته راځي.

بيلګې:

(c) ketabton.com: The Digital Library






$$f(x) = x^3 + x^2 - 4x - 1$$

$$f(x) = -x^3 - x^2 + 4x + 1$$

$$f(x) = 0,2x^4 + 2x^3 + 5x^2 + x - 2$$

$$f(x) = -0,2x^4 - 2x^3 - 5x^2 - x + 2$$

د ګراف تلنه

جمله:
د ټول راشنل تابع ګراف تلنه د خورا جګ توان زياته وونې ( د جمعي غړي ) سره ټاکل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | n جوړه | n ناجوړه(طاق) |
|---|---|---|
| $a_n>0$ | تلنه له II و I ته. | تلنه له III و I ته. |
| $a_n<0$ | تلنه له IV و III ته. | تلنه له II و IV ته. |

بيلګه: د الماي پېنتو: ناجوړه(طاق) جوړه (جفت) ناجوړه

$f(x) = 4x^3 + 2x^2 - 7 \qquad n = 3\ (\text{ungerade}) \wedge a_n = 4 > 0 \Rightarrow \underline{\underline{III - I}}$

$f(x) = -2x^4 + 3x^2 - 4x + 7 \qquad n = 4\ (\text{gerade}) \wedge a_n = -2 < 0 \Rightarrow \underline{\underline{III - IV}}$

$f(x) = -5x^5 + 2x^4 + 9 \qquad n = 5\ (\text{ungerade}) \wedge a_n = -5 < 0 \Rightarrow \underline{\underline{II - IV}}$

## سيومتري

ګومان مو نږدې دی، هغه توابع، چې فقط د جوړه جګعددونو توانونو څخه يوځای شوي وي، محور سيومتريک دي او توابع چې فقط د ناجوړه(طاقو) جګعددونو توانونو څخه يوځای شوي وي، ټکی سيومتريک دي.

جمله

د يوه ټولراشنل تابع ګراف ټيم هلته محورسيومتريک دی، که تابع مساوات فقط جوړه جګعددونه ولري.

د يوه ټولراشنل تابع ګراف ټيک هلته ټکيسيومتريک دی، که تابع مساوات فقط ناجوړه (طاق) جګعددونه ولري.

بيلګه:

$$f(x) = 2x^4 + 3x^2 + 1$$

$$f(-x) = 2(-x)^4 + 3(-x)^2 + 1 = 2x^4 + 3x^2 + 1 = f(x) \Rightarrow$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



محورسیومتریک

$$f(x) = 3x^3 - 2x$$

$$f(-x) = 3(-x)^3 - 2(-x) = -3x^3 + 2x = -(3x^3 - 2x) = -f(x) \Rightarrow$$

تکی سیومتریک




$$f(x) = 3x^3 - 2x$$

سرچینې ته سیومتریک دی

( تکی سیومتري)




$$f(x) = 2x^4 + 3x^2 + 1$$

yمحور ته سیومتریک دی

(محورسیومتریک)

## تمرینونه:

د ټول هوښیارو توابعو خویونه.

د لاندې تاوبعو په سیمترى، تلنه او د صفرځایونو تعداد یا ګنون باندې ویناوې وکړی.

لومړی - $f(x) = 2x^2 - 1$ دویم - $f(x) = -3x^3 + 2x^2 - 3x + 1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریم - $f(x)=-\frac{1}{2}x^4+2x^2+2$ خلورم - $f(x)=-x^5-x^3+x$

پنځم - $f(x)=x^6-x^4+1$ شپږم - $f(x)=-\frac{1}{2}x^5+x^2-2x$

اوم - $f(x)=\frac{1}{10}x^7+\frac{1}{8}x^5-\frac{1}{6}x^3+x$ اتم - $f(x)=\frac{1}{100}x^{10}-\frac{1}{50}x^6+\frac{1}{10}x^2$

نهم - $f(x)=-\frac{1}{4}x^3+\frac{2}{5}x-1$ لسم - $f(x)=\frac{3}{4}x^5-\frac{1}{2}x$

په یوه خوښه ټکي ته سیومتریک

که د یوه ټکي سیومستري تابع ګراف په خوښه راکښل شي، نو سیومتري سرچیني ته ځي، چې موږ یې ټکی سیومتري بولو له منځه ځي. نسبت و موخښټکی ته دا ساتلې پاتې کیږي.

بیلګه:

د $f(x)=0,5x^3-1,5x$ تابع ګراف ټکی سیومتریک دی، یعني سرچیني ته سیومتریک.

دا ګراف دې په ۲ واحدونو یا یوونونو کیڼ لور ته او په ۳ یوونونو یا واحدونو کښته لور ته راکښل شي.

د راکښلشوي ګراف تابع مساوات دي:

$$g(x)=0,5(x+2)^3-1,5(x+2)-3=0,5x^3+3x^2+4,5x-2$$

$g(x)$ و ټکی $P_0(-2|-3)$ ته سیومتریک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library









کواوردينانسيستم د ګراف په بڼه کوم رول نه لوبوي. تنها تابع مساواتوتغير خوړلی.

د حالت بيلګه: بايد وازمايل شي، چې ايا د دريمې درجې د يوه ټول هوښيار تابع ګراف يوه ټاکلي ټکی ته ټکی سيومتريک دی.

ترمخ راوړنه.

چمتووالی:

د ټکو کواوردينات لپاره باور لري:

$$x_1 = x_0 + \Delta x$$
$$y_1 = y_0 + \Delta y$$
$$x_1{}' = x_0{}' - \Delta x$$
$$y_1{}' = y_0{}' - \Delta y$$
$$\Delta x = x_1 - x_0$$
$$\Delta y = y_1 - y_0$$

د هنداره-يا منعکس شوي ټکو کواوردیناتونه:

$$x_1{}' = x_0 - (x_1 - x_0) = \underline{\underline{2x_0 - x_1}}$$
$$y_1{}' = y_0 - (y_1 - y_0) = \underline{\underline{2y_0 - y_1}}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | د دې قاعدې یا لار سره تل کېدی شي په $P_0$ و $P_1$ ته یوه هنداړونه یا انعکاسونه کې اړونده هنداړونه $P_1'$ وټاکل شي. |

بیلګه:

که هنداورنه په ګراف نه وي پرته ، نو ګراف و $P_0$ ته ټکی سیومتریک نه دی.

## پوښتني

## ټول مات- یا راشنل توابع I

د توانتوابعو خویونه

لومړی –

| | |
|---|---|
|  | دا ترخنګ په 1 . خلورمه کې ګراف تر خیرنې لاندې ونیسی<br><br>د x ارزښتونو لپاره د 0 او 1 ترمنځ دجګو درجو یو د توان تابع ګراف پروت دی<br><br>د یوه توان تابع د ګراف لاندې یا کښته د ټیټې درجې.<br><br>د $x > 1$ لپاره دا ټیک برعکس کېدونکي دي.<br><br>د دې حالت لپاره لایل راوړی. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم – د دریمې درجې توان تابع کراف دې په دوه واحده کینې لور ته او ترلی په درې واحده پورته لور ته و کښل شي.

د دې راکښل شوې تابع مساوات لپاره دې د تابع مساوات ورکړ شي.

دریم –

د څلورمې درجې توان تابع ګراف دې په درې واحده ښی لور ته او پسې ترلی دې په دوه ضریبه وغزول شي.

الف – د راکشل شوي ګراف لپاره تابع مساوات ورکړئ

ب – وښایئ، چې ګراف نه محور – او نه ټکی سیومتریک دی.

څلورم –

په کوم توان تابع $f(x) = x^n$ کې ټکی په ګراف اړه لري؟

د دې توان توابعو مساوات ورکړئ.

الف - $P(-3 \mid -27)$ ب - $P(-2 \mid 16)$ پ - $P(0,5 \mid 0,25)$ ت - $P\left(\frac{1}{3} \middle| \frac{1}{27}\right)$

ټ - $P(0,1 \mid 0,0001)$ ث - $P(-1 \mid 1)$ ج - $P(-2 \mid 8)$ چ - $P\left(\frac{3}{4} \middle| \frac{81}{256}\right)$

پنځم –

د لاندې توان توابعو سیومتري او د ګراف تلنه وټاکئ او د هر یوه ارزښتدېرئ( ارزشتسټ) او درجه ورکړې.

الف - $f(x) = 4x^3$ ب - $f(x) = -160x^2$ پ - $f(x) = -1500x$

ت - $f(x) = \sqrt{2} \cdot x^6$ ټ - $f(x) = 5$ ث - $f(x) = -25x^5$

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم –

لاندې تابع مساوات د پولینوم په بڼه انځور کړی.

هر ځل يې درجه ورکړی.

الف - $f(x) = (x-2)^2 - 4x^3$ ب- $f(x) = 4(x+5)^3 + (x-2)(x+2)$

پ- $f(x) = 2x^3 - (x-1)^2$ ت - $f(x) = (x-4)(x+1)^2$

ټ - $f(x) = (x^2-4)(x^3-x^2+4)$ ث - $f(x) = \frac{x-5}{8}(x-2) + \frac{3}{4}x^2$

اوم -

دلیل راړی:

د یوه ناجوړه(طاق) درجې تولراشنل تابع ګراف دx محور لږ ترلږه په یوه ځل غوڅوي.

دا هلته هم باور لري که درجه جوړه یا جفتوي؟

## پوښتنې

## تول راشنل توابع II

## سیومتری او تلنه

لومړی – و ښیږی، چې ایا f(x) یو تولراشنل تابع دی. په ورکړشوي حالت کې د تابع ګراف، درجه او د ضریبونو $a_0; a_1; a_2; \dots a_n$ ارزښتونه ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف ـ $f(x)=2$ ب ـ $f(x)=4x$ پ ـ $f(x)=2^x$ ت ـ $f(x)=\frac{x^3-4x}{8}$

ټ ـ $f(x)=\sqrt{3}x^4$ ث ـ $f(x)=\frac{1}{x}$ ج ـ $f(x)=\sqrt{x}$ چ ـ $f(x)=\left(x-\sqrt{3}\right)^2$

ح ـ $f(x)=\left(x+\sqrt{2}\right)\left(x-\sqrt{2}\right)$ خ ـ $f(x)=16x^3-2x^2+5x^2-4$

دویم – د لاندې ټولراشنل توابعو څخه کوم یې محور سیومتریک او کوم یې ټکی سیومتریک دي؟

الف ـ $f(x)=x^4-6x^2+5$ ب ـ $f(x)=x^3+3x+1$ پ ـ $f(x)=(x-2)(x+2)$

ت ـ $f(x)=x^6-6x^2+\sqrt{3}$ ټ ـ $f(x)=(x-2)^3(x-1)$ ث ـ $f(x)=x^4-\sqrt{5}x^2$

ج ـ $f(x)=\left(2x^4+2x^2+5\right)x$ چ ـ $f(x)=\left(x^2-2x+3\right)(x+1)(x-1)$

ح ـ $f(x)=1-3x^2+x^6$

دریم – د c متحوله داسې وټاکئ، چې د تابع ګراف ټکی سیومتریک او همداسې محورسیومتریک شي.

الف ـ $f(x)=x^3+4x+c$ ب ـ $f(x)=(x-c)(x+4)$ پ ـ $f(x)=x^5+x^c$

ت ـ $f(x)=x^3\left(x^2-cx\right)$ ټ ـ $f(x)=c+x^3$ ث ـ $f(x)=4x^3+x^2+cx^2+5x$

څلورم : د لاندې توابعو د ګراف تلنه معلومه کړئ.

الف ـ $f(x)=2x^5-6x^3$ ب ـ $f(x)=-4x^4+3$

پ ـ $f(x)=2x-5$ ت ـ $f(x)=-2x^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټ - $f(x)=4x^4-3x^2+4x-5$ ث - $f(x)=-6x+3$

ج - $f(x)=4x^4+3x^3-6x^5$ چ - $f(x)=-2x^5+6x^3$

پنځم - د لاندې توابعو د ګراف تلنه او سیومتري ورکړی.

الف - $f(x)=\sqrt{3}x^2-\sqrt{5}x^4-2$ ب - $f(x)=x\left(x+\frac{1}{2}\right)\left(8-\frac{1}{2}x\right)$

پ - $f(x)=5x^6-4x^4+5$ ت - $f(x)=x^5+x^3-2x$

ټ - $f(x)=5$ ث - $f(x)=\left(x^2-25\right)\left(x^2+6x+9\right)$

ج - $f(x)=x^5+4x^4+4x^3$ چ - $f(x)=\left(4x^2-4\right)\left(x^3+8x^2+16x\right)\left(x^3+27\right)$

ح - $f(x)=-3$ خ - $f(x)=-x^5+x^3-2$

شپږم : د لاندې تابعو صفرځیونه وشمېرئ:

الف - $f(x)=(x-4)(x-2)(x+1)$ ب - $f(x)=(x-4)(-x+2)$

پ - $f(x)=x(x+5)^2$ ت - $f(x)=3(x-4)^3(x+2)$

ټ - $f(x)=(2x-4)(x+3)x^3$ ث - $f(x)=x^3-2x^2$

# د ټیولراشنل توابعو محور غوځېټکي ( د محور د تقاطع نقطی)

د ټیولراسنل توابعو محور غوځېټکي ( د محور د تقاطع نقطی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د y محور سره غوځتکی $P_y(0|y_s)$ : $P_y(0|y_s)$ شرط: $y_s = f(0)$

بيلګه : د يا په معنا

$$f(x) = 3x^4 - 2x^2 - 3 \Rightarrow f(0) = 3\cdot 0^4 - 2\cdot 0^2 - 3 = 0 - 0 - 3 = -3$$
$$\Rightarrow P_y(0|-3) \text{ oder } P_y(0|f(0))$$

د $P_y$ د y کواوردينات تل د ضريبونو $a_0$ سره کټمټ ده.

دا تل د تابع مساوات څخه لوستل کيدی شي.

د x-محور سره غوځتکی $P_y(x_s|0)$ صفرځای : شرط: $f(x) = 0$

د مربع تابع ( د دويمي درجي ټولراشنلتابع) څخه بوهيږو، چي دا دوه ، يو ، يا هيڅ صفرځايونه لرودی شي. دا د څګ درجو ټول راشنلتابع سره څنګه دی؟

بيلګه:

| | |
|---|---|
|  |  |
| $f(x) = x^3 - x^2 - 5x + 7$ | $f(x) = x^3 - x^2 - 5x + 2$ |
| صفرځای نه لري | دري صفرځايونه لري |

(c) ketabton.com: The Digital Library






$f(x) = -0,2x^4 - 2x^3 - 5x^2 - 0,2x - 2$

د صفرځای نه شتون




$f(x) = -0,2x^4 - 2x^3 - 5x^2 - 0,2x + 2$

خلور صفرځایونه لري.

جمله:

یو د n -مي درجي تولراشنل تابع زیات له زیاته n صفرځایونه لري.

که n جوړه وي، نو دا لږترلږه یو صفرځای لري.

د صفرځایونو شمیرنې لار(تګلار)

د فکتوري کونو یا صریبونو تګلار:

$$f(x) = 2x^3 - 2x^2 - 4x = 0$$

فاکتور x له نوکانو راوتلی شي.

$$\Leftrightarrow x(2x^2 - 2x - 4) = 0 \Rightarrow x_1 = 0$$

او په نوکانو کې افاده یا وییِنه صفر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرليک

$$\Rightarrow 2x^2 - 2x - 4 = 0$$

مربع مساوات دی.

$$2x^2 - 2x - 4 = 0 \,|\, : 2 \Leftrightarrow x^2 - x - 2 = 0$$

$$p = -1;\ q = -2 \Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = \frac{1}{4} + 2 = \frac{1}{4} + \frac{8}{4} = \frac{9}{4} \Rightarrow \sqrt{D} = \sqrt{\frac{9}{4}} = \frac{3}{2}$$

$$x_{2/3} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} \quad \left| \begin{array}{l} x_2 = \frac{1}{2} + \frac{3}{2} = \frac{4}{2} = 2 \\ x_3 = \frac{1}{2} - \frac{3}{2} = -\frac{2}{2} = -1 \end{array} \right.$$

صفرځایونه :

$$x_1 = 0;\ x_2 = 2;\ x_3 = -1$$

د x محور سره غوڅتکی

$$P_{x1}(0|0);\ P_{x2}(2|0);\ P_{x3}(-1|0)$$

د تابع مساوات:

$$f(x) = \underbrace{2x(x+1)(x-2)}_{\text{Produkt aus Linearfaktoren}} \Leftrightarrow f(x) = 2x^3 - 2x^2 - 4x$$

(پورته) د کرښیز ضریبونو ضرب

## د بدلون قانون substitution:

یادونه: په دې معنا چې د يوې اووښتونې یا متحولې لپاره بله متحوله ځا په ځای کوو.

$f(x) = x^4 - 13x^2 + 36 = 0$ بې مربعیز( بي ځلوریز) مساوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرليک

بدلون: $x^2=z$

$$\Rightarrow f(z) = z^2 - 13z + 36 = 0 \quad p = -13 \quad q = 36$$

$$D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = \left(\frac{13}{2}\right)^2 - 36 = \frac{169}{4} - \frac{144}{4} = \frac{25}{4} \Rightarrow \sqrt{D} = \sqrt{\frac{25}{4}} = \frac{5}{2}$$

$$z_{1/2} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} \left| \begin{array}{l} z_1 = \frac{13}{2} + \frac{5}{2} = 9 \\ z_2 = \frac{13}{2} - \frac{5}{2} = 4 \end{array} \right.$$

بدلون په ځېـ- يا بيرته ګرځوو:

$$x^2 = z_1 = 9 \,|\, \sqrt{\ } \qquad x^2 = z_2 = 4 \,|\, \sqrt{\ }$$

$$\Rightarrow |x| = \sqrt{9} \qquad |x| = \sqrt{4}$$

$$\Rightarrow x_1 = 3 \quad x_2 = -3 \qquad x_3 = 2 \quad x_4 = -2$$

د x محور سره غوځېکی

$$P_{x1}(3|0); P_{x2}(-3|0); P_{x3}(2|0); P_{x4}(-2|0)$$

د تابع مساوات:

$$f(x) = \underbrace{(x-3)(x+3)(x-2)(x+2)}_{\text{Produkt aus Linearfaktoren}} \Leftrightarrow f(x) = x^4 - 13x^2 + 36$$

د کرښيز ضريبونو ضرب

پوښتني

## محور غوځېکي او د ټولراشنل يا ماتتوابعو ګرافونهII

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: د درېيمې درجې يو ټولهوښيار يا –راشنل تابع سرچيني سره سيومتريک ده، که

الف- له ټکو $P_1(1|2)$ او $P_2(3|-2)$ څخه تيره شي.

ب- که کربنهg د g(x)=3x سره پارابول په P(0|0) کې لمس کړي.

دويم: تابع f(x) د پيژندورشو يا تعريف ساحې D = IR سره ورکړ شوې ده. تابع f(x) په سيومتري وڅيړی، صفرځايونه وشميری او ګراف وکاږی.

الف – $f(x)=\frac{1}{2}x^3-3x^2$ ب – $f(x)=x^3-\frac{4}{3}x^2+\frac{1}{3}x$

پ - $f(x)=\frac{1}{4}x^3-\frac{3}{4}x^2+5$ ت - $f(x)=\frac{1}{48}x^3-x$

ټ - $f(x)=\frac{1}{4}x^3-3x^2+9x$ ث - $f(x)=\frac{1}{5}x(3-x)(x+1)$

ج - $f(x)=\frac{1}{2}x\left(\frac{1}{4}x-1\right)^2$ چ = $f(x)=-\frac{1}{4}x^3+\frac{9}{4}x^2-6x+\frac{9}{2}$

دريم: تابع $f(x)=x^3-3x^2+6\,;D=\mathbb{R}$ ورکړشوې ده.




الف - وښايی:
د f(x) صفرځای د ( -1 ; -2 ) ترمنځ پروت دی
مدلل کړی، چې f(x) ټيک يو صفرځای لري، دا ګراف بايد څنګه راکښل شي، چې له هغې سره دا ټيک دوه صفرځايونه ولري؟

ب- کربنه x = u د f(x) ګراف په ټکي Q او د x محور په P کې غوڅوي.
د لاندې درېګوډي يا مثلث 0PQ سطحه د u = 2 لپاره وښايی.
د مثلث د (خوندي) سطحې ترم د u په واکوالي کې د u > 0 لپاره ورکړی.
g(x) څومره صفرځايونه د g(x)=3.f(x) سره لري؟
دلايل يې راوړی.

څلورم: تابع $f(x)=5x^3-10{,}8x+4$ ورکړ شوې ده. وښای: x=0,4 يو صفرځای دی. پسې نور صفرځايونه وشميری.

$f(x)=5x^3-10{,}8x+4\,;D=\mathbb{R}$

پنځم: د اووښتوني يا متحولې c په واکوالي کې د صفرځايونو تعداد وټاکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرليک

$$f(x)=x^3+2x^2+2cx\,;\,D=\mathbb{R}$$

$$x^2+2x+2c=0\Rightarrow p=2\,;\,q=2c\Rightarrow D=1-2c$$
$$\text{für } D>0\Rightarrow 1-2c>0\Leftrightarrow c<0{,}5$$
$$\text{für } D=0\Rightarrow 1-2c=0\Leftrightarrow c=0{,}5\Rightarrow x_{2/3}=-1$$
$$\text{für } D<0\Rightarrow 1-2c<0\Leftrightarrow c>0{,}5$$
$$\text{für } c=0\Leftrightarrow x^2+2x=0\Leftrightarrow x(x+2)=0\Rightarrow x_2=0\,;\,x_3=-2$$

اړيکي:
د $c > 0{,}5$ لپاره $f(x)$ تيک يو صفرځاى لري:$P_x(\,0\,|\,0\,)$
د $c = 0{,}5$ يا د $c = 0$ لباره$f(x)$ تيک دوه صفرځايونه لري.
د$c < 0{,}5$ او $c$ د صفر سره نامساوي لپاره $f(x)$ تيک درې صفرځايونه لري.

## پوښتنې
## د ټول راشنل توابعو محور غوښتکي او ګرافونه III
## تابع په يوه ګراف تنظيمېږي.

لومړی: هر د يوه تابع ترم سره تنظيم کړی او خپله پرېکړه په دليل کلکه کړی.

$$f_1(x)=x^3-x+1;\ f_2(x)=x^3-2x+1$$

$$f_3(x)=x^3-x^2+1;\ f_4(x)=\frac{1}{12}x^3-\frac{1}{4}x^2-\frac{1}{3}x+1$$






(c) ketabton.com: The Digital Library









دویم: هر هغه څوک چې د لایسنس اخستلو لپاره ځان چمتو کوي، باید وپوهیږي، چې د یوه بریک وهونکي موټر تمکیدني واټن په یوه وچ پاخه سرک)چې طبعأ باید هوار وي) د عکسالعمل لار او د بریک لار څخه یوځای جوړه ده. د لاندې د موټې قانون یا لار( د دري ګوتو) څخه کیدی شي د چټکتیا v پهkm/h د عکسالعمل لارr او د بریک لار b په متر وشمیرل شي.

د بریک لار: $b = \left(\frac{v}{10}\right)^2$ همداسې $b = \frac{\left(\frac{v}{10}\right)^2}{2}$ ، د عکس العمل لار: $r = \frac{v}{10} \cdot 3$

د المان د3.3.04 راپن اخبار د اول له جولای1. Juli 2004 په وچ سره د تمځای لار په بل بریکلار شمیرل کیږي.( په افغانستن کې به داخنګه وي ؟نه پوهیږم)

الف- تابع مساوات $s = f(v)$ وټاکی، د کوم سره چې د هرې تلنې د چټکتیا یا سرعت تملار شمیرل کیدی شي.

ب – د لاندې تلل شوی چټکتیا $v = 0, 10, 20, 30, \dots 50$ km/h لپاره په یوه ارزښت جدول کې د هغه هر یوه تمځای s سره یوځای کړی

پ – له دې سره د (60 ... 100 km/h) لپاره s د یو څونور ارزښتونه وشمیری او د دې تابع ګراف وکاږی.

ت – د نوې بریک نیولو قانون(المانی) سره دا تراوسه شمیرل شوي ارزښتونه وشمیری او دا په همغه کواودینات سیستم کې وکاږی او تولہ نتیجه په شننه یا کومنتار سره روښانه کړی.

دریم: داتابعورکړ شوې: $f(x) = x^3 - 0{,}5x^2 - 3x + 1{,}5\,;\ D = \mathbb{R}$

الف- وښایی: $f(x) = 0{,}5(2x-1)(x^2-3)$

ب –ګراف د شوونتیا تر پولې ټیک وکاږی.

پ – د x د کوم ارزښتونو لپاره$f(x)>0$ باور لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شننيزه ځمککچپو هنه يا تحليلي هندسه:

تحليلی هندسه( وکتورهندسه هم) د هندسي يوه برخه ده، چې د هندسي پرابلمونو د حل د پاره د الجبري مرستندوی موادو ( په ټوليزه توګه له کربنيز الجبر) څخه جمتو کوي. دا په ډېرو حالتونو کې ممکن کوي، چې ځمککچيزې پوښتنکوني سوچه شميرنيز حل کړی شو، بې له دې چې ليدوني يې مرستې ته راوبولي يعني چې شکل څنګه برېښي يا دی.

## ۱۶ - د سطحې شننيزه ( تحليلي) هندسه

په دې برخه کی يوڅود تحليلي ( شننيزې يا سپړنيزې) ځمککچپوهنې يا هندسي ټاکلي پرابلمونه څېړل کيږي.د تحليلي هندسي بنسټيزه ټګلار به څرګنده ( وښول ) شي، په نامه هندسي جوړښتونه، ددې هندسي شکلونو او ددې په شننيزې يا تحليلي څرګندونويی د هندسي خويونو جوړښت ښايي.

### ۱۶ . ۱ کرښه

د هندسي ټاکندو ټوټو له لارې مختلف امکانات شته دی، چې يوه کرښه يواځنی کره تعين کړاي شو. ددې په لاس ته راوړنو له امله د کرښبرابرونونو يا - مساواتو مختلفی بڼی شته دی. يوه کرښه د يوه ټکي او د هغه د لور( سمت) له لارې ټاکل کيدي شي . ( ټکی او د ټکی ميلان معلوم دی) .

دلته دې( $P1(x1 , y1$ )دا ټکي وي. $\alpha \neq \pm\frac{\pi}{2}$ دې د ځګيدو کونج،وي، چې د کرښی لور ټاکي (خ ۱۶ . ۱ ) او $P(x,y)$ په کرښه يو اووښتونی (واريابل ) ټکی دی٠

(c) ketabton.com: The Digital Library






نو د کرښی د میلان $\tan\alpha = m$ لپاره باور لري: $m = \dfrac{y - y_1}{x - x_1}$

(پورته څیره دې وکتل شي( لاددې څیره هم په همدې موخه کښل شوې ده))




له دې څخه لاندې لاس ته راځي:

$$y - y_1 = m(x - x_1); ......................(16,1)$$

پورته د کرښی ټکی لوربرابرون

که د y په محور P1وټاکل شي د کواوردیناتو $x1= 0, y1 = b$ سره، نو له ( ۱۶ . ۱ )سملاسي په لاس راځي: $y - b = m (x - 0)$ په همدې ډول(⇔)

$$y = mx + b \qquad (16 . 2)$$

دا پورته برابرون د کرښمساواتونورمال فورم (بڼه) بلل کیږي

یوه کرښه د دوه ټکو له لارې ټاکل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوه ټکي دي( P1( x1 , y1 او( P2 (x2 , y2 وي، د x1|=x2 سره ، ( ځيره ش ۱۶ . ۲ ) د جګيدونکی يا تنجنت $\tan\alpha = m$ لپاره داسی دي:

m = (y - y1 ) /(x -x1)

او

m = ( y2-y1)/(x1-x2) = (y2-y1)/(x2-x1)

له کومو چی لاس ته راځي

$$m = \frac{y - y_1}{x - x_1} = \frac{y_2 - y_1}{x \;\; - x_1};..................(16,3)$$

پورته د کرښی دوه ټکيزبرابرون

ځيره ده




Bild 16.2 ځيره



ځيره

که د x - محور باندې د P1 ټکی ، د کواوردينات x1 = a |= 0 , y1 = 0 سره وټاکو او ټکیP2 دy- محور باندې د کواوردينات x1= 0, y2 = b|= 0 سره وټاکو، نو له (۱۶ . ۳) لاس ته راځي:

(y - 0 ) / ( x - a) = ( b - 0)/ (0 - a )

او له دې دا لاندې لاس ته راځي:

$$x/a+y/b = \frac{x}{a} + \frac{y}{b} = 1 \qquad ( 16,4)$$

پورته د کرښو د غوڅي برابرون

ځلور پورتنی کرښمساوات ټول په x او y کی لاينيز دي.د مساوات عمومي فورم )يا ټوليزه بڼه ( داسی دی:

Ax + By + C = 0 (16 . 5 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرښبرابرونونو ټولیزه بڼه( عمومي فورم)
دا فورم په ځانګړې توګه دا برابرون هم خوندي لري یا په بر کی نیسي
$y = y0$ ( $A = 0$ ,$B|=0$)
او( $x=x0(A|=0,B=0$ چی د x - محور اوپه همدې ډول د y - محور ته غبرګي کرښي دي، په داسی حال کی چی تراوسه دومه لا نه ده څېړل شوې

بیلګه ۱۶ . ۱:

د کرښی برابرون یا لاینیز برابرون، چی له( P(-2 , 3 ټکي تیریږي او د جګوالي کونج $\alpha = 30°$ یی د $m = \tan\alpha \frac{1}{3}\sqrt{3}$ له امله، د ( ۱۶ . ۱ ) سره سم داسی لیکل کیږي $y-3=\frac{1}{3}\sqrt{3}(x+2)$

او نورمال فورم يي په لاندې ډول دی

$$y=\frac{1}{3}\sqrt{3}x+(3+\frac{2}{3}\sqrt{3})$$

بیلګه ۱۶ . ۲ :

د لاینیزبرابرون یا دکرښوبرابرون په ټکو( P1 (3/2 ,-2 او( P2( 1 , -4کی د (۱۶ . ۳ )سره سم په لاندې ډول دي:

$$\frac{y+2}{x-\frac{3}{2}}=\frac{-y+2}{1-\frac{3}{2}}$$

له دې لاس ته راځي: $y+2=\frac{-2}{-\frac{1}{2}}(x-\frac{3}{2})$

نو نورمال فورم $y=4x-8$ لرو( **اته** ناسم، په ځای یې شپږ دي)

بیلګه ۱۶ . ۳ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرښه د y =-(3/2)x+1 برابرون سره د y - محور په( P1(0,1 ټکي کی غوڅوي او جګوالی یی 2/3 - دی ، دا په دې مانا چی د x - ارزښت تغیریدل په یو دy - ارزښت په 2/3 - تغیروي، په دې ډول دوم د کرښي ټکی لاس ته راځي. د بیلګی په توګه p2 (0+1 , 1-(3/ 2)=p2(1,-1/2)

(ځیره ۱۶ . ۴ لاندې کښل شوې )

بیلګه ۱۶ . ۴ :

د کرښی د برابرونونو عمومي فورم x-2y-6 = 0 څخه دغوځیدو فورم لاس ته راځي
x / 6 + y / 3 = 1
کرښه دکواوردینات محورونه په دې ټکو( P1(6 , 0), P2(o,-3 کې غوڅوي۰
په یوه کرښه د دوه ټکو( P1(xx,y1),P2(x2,y2ترمنځ فاصله ( که د کرښي واټن P1P2 d = وي د پیتاګوراس( فیساغورس) له جملی ( ځیره . ۱۶ . ۵ ) داسی ده

$$d = \sqrt{(x_2 - x_1)^2 + (y_2 - y_1)^2};.........................(16,6)$$

پورته د ټکو P1 او P2 ترمنځ واټن

ځیرې ۱۶ . ۴ او - ۵







بیلګه ۱۶ . ۵ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درېګوډي ABC د اړخونواوږدوالی، چی کونجتکي یی دادي( A(3,1),B(-1,1),C(2,5، په لاندې ډول دی

$$a = \overline{BC} = \sqrt{(2+1)^2 + (5-1)^2} = \sqrt{25} = 5$$

$$b = \overline{AC} = \sqrt{(2-3)^2 + (5+1)^2} = \sqrt{37} = 6,08$$

$$c = \overline{AB} = \sqrt{(-1-3)^2 + (1+1)^2} = \sqrt{20} = 4,47$$

دوه کرښي ( نه کېمټی ) چی ( یو د بلی سره) غبرګي نه وي ټیك یو غوڅټکی لري. دا چی دا ټکی په دواړو کواور دیناتو پروت دی ، نو د دواړو کواوردیناتو برابرون باید پوره کړي . په دې حالت کي د غوڅټکي کواوردیناتو، د دوه لاینیزو برابرونونو سره چی دوه اوښتونې یا

ناپیژندونکی ( مجهولی ) ولري، د یوه سیستم یواځنی کره اوبیونه ترې لاس ته راځي. په ټولیزه توګه دا باور لري: که یو برابرونسیستم چی د دوه کرښو د برابرونونو څخه جوړ وي، او یو یواځنی ټاکلی حل لري، نو دواړه کرښي یو بل په دې ټکي کی سره پرې کوي.
که ناپای ډیرې اوبیونې شته وي، نو په دې حالت کی برابرون همغه یوه کرښه ښایي، که کوم اوبی ونه لري، نو کرښي یوبل سره غبرګي ځغلي ( پرتله ۱۱ . ۱ . ۲ )

بیلګه ۱۶ . ۶ :

د g1 : y = 3x-2 کرښی پروتځاي ( موقعیت) د لاندې کرښو
الف) g2: -2x+y = 1,
ب) g3: 3x -y=5, ,
پ) g4 : -x+(1/3)y=-2/3
سره څیرو
اوبیونه : د g1 برابرونونو څیره داسی بدلیږي : 3x-y=2
الف ) د برابرونونو سیستم 3x-y=2، -2x+y=1
ټیك یوه اوبونه لري: x1=3 , y1=7
ددې څخه څرګندیږي چی ټکی( S(3 , 7 د کرښو g1 او g2 غوڅټکی دی .
ب ) د برابرونونو سیستم
3x - y = 2
3 x - y = 1

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبی نه لري : برابرونونه يو بل ردوي يه نه زغمي . د g1 او g2 کرښی يو د بل سره غبرگي دي

پ ) د برابرونونو سيستم 3x-y=2

-x+(1/3)y=-2/3

ناپای ډیر ې اوبيونې يا حلونه لري. برابرونونه يو بل سره برابر يا يو بل ته ورته دي. که په ۳ ضرب شي يو همغه پورته برابرون ترې لاس ته راځي .

g1 او g2 دوه کتې مټ برابرونونه دي ۰

که د دوه کرښو

g 1 : y = m1x + b1 g2 : y = m2x + b2

غوڅکونج $\phi$ ټاکو، نو د دواړو کرښو جگيد کونجونو $\alpha_1 \wedge \alpha_2$ کمون (کمښت يا توپير)جوړوو (ځ ۱۶ . ۶ )




ځېره ۱۶ . ۶

د کرښی له برابرونونو پوهيږو $\tan\alpha_1 = m_1 \wedge \tan\alpha_2 = m_2$

د زياتون تيورم ( بنستيزه جمله) ( برخه ۶ . ۵ ) ځخه د $\tan(\alpha_2-\alpha_1)$ لپاره ( پر تله برخه ۴ . ۵ ) باوري ده

$$\tan\phi = \tan(\alpha_2-\alpha_1) = (\tan\alpha_2 - \tan_1)/(1+\tan\alpha_1.\tan\alpha_2)$$

د کوم ځخه چی د $\tan\alpha_1 = m_1 \wedge \tan\alpha_2 = m_2$ سره دا لاندې لاس ته راځي:

$$\tan\phi = \frac{m_2 - m_1}{1+m_1.m_2};........................(16,7)$$

پورته د دوه کرښو غوڅکونج دیږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې پورې اړه لري چې ایا $\phi > 0 \vee \phi < 0$ د پورته خېرې ۱۶ . ۶ کونج پڅ او که تیره دئ.

بیلګه ۱۶ . ۷ :

د دوه کرښو g1:y=x-1او g2:y=(7/4)x+1 غوڅکونج لپاره له ( ۱۶ ، ۷ ) څخه لاس ته راځي:

$$\tan\phi = \frac{\frac{7}{4}-1}{1+1.\frac{7}{4}} = \frac{3}{11}; \phi = 15,255°$$

د g1 او g2 ترمنځ پڅکونج په دې ډول دئ : $180-\phi = 164,745°$

د دوه کرښو یو بل ته ځانګړي حالتونه:

۱ – کرښې یوبل سره غبرګې ځغلي. نو لرو:

$$\phi = 180° \vee \phi = 0 \Leftrightarrow$$

$$\tan\phi = \frac{m_1 - m_2}{1+m_1.m_2} = 0$$

ګورو چې د 0 = m2 - m1 لپاره باور لري، نو m2 = m1

(دلته باور لري : $m_1.m_2 = m_1^2 \neq -1$ )

۲ - کرښې یو په بل (نیغې) ولاړې دي، نو لرو

$$\phi = 90° \Rightarrow \tan\phi = (m-m)/(1+m.m) = \infty$$

دا حالت د 0 = 1+m1.m2لپاره منځ ته راځي،

یعنې د1/m1- =m2 لپاره (0 =|m1|=0,m2)

په کرښه( m1=0) y=y0 باندې کرښه(x=x0(m2=oe نیغه ولاړه ده

د غبرګوالی لپاره شرطونه

m2 = m1 (16, 8)

د اورتوګونالیټی Orthogonalität(یو په بل ولاړوالي) لپاره شرطونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



m2 = -1 / m1      (16 . 9)

بیلګه ۱۶ . ۸ : دکرښی g2 برابرون دې وټاکل شي چی له ټکي( P (2,-1 تیریږي، او له کرښی g1 : y = -2x +1 سره الف ( غبرګه او ب( اورتوګونال (نیغه) ځغلي اوبیونه:
الف ) د g2 کرښی میلان ( جګوالی m2 = m1 = -2 )دی. پام ( ۱۶ . ۱ ) ته دکرښي g2برابرون لپاره باور لري : ( y+1=-2(x-2 همداسی y = -2x +3
ب ) د g2 کرښي میلان یاجګیدنه ده m2=-1/m1=1/2 د( ۱۶ . ۱ ) سره سم د g2 کرښي برابرون دی: y+1=(1/2)(x-2) <=> y=(1/2)x-2

بیلګه ۱۶ . ۹ :

د کرښی برابرون ټاکل کیږي چي د( P1(1/3,-1/6 ټکی تیریږي او په کرښه چی له ټکو( P2(-1,1 او( P3(-2,-1 تیریږي، ولاړه وي.
ځواب : کرښه چي له P2 ,P3 ټکو تیریږي، و ( ۱۶ . ۳ ) ته په پام لاندې برابرون لري (y-1)/(x+1)=(-1-1)/(-2+1) = 2 <=> y = 2x +3

په دې کرښی د (عمودي) ولاړې کرښی میلان یا جګوالی داسی دی:

$$m_2 = -\frac{1}{m_1} = -\frac{1}{2}$$

د $p_1$ څخه تیریدونکی کرښي برابرون د $m_2$ میلان سره د( ۱۶ . ۱ ) له مخی دي:
y+(1/6)=-(1/2)(x-173) <=> y=-(1/2)x

بیلګه ۱۶ . ۱۰ :

د g1:2x-y-1=0او g2: 3x+2y=5 کرښو د غوځښکي S واټن له ټکي( P(6,13څومره دی او د کرښي برابرون څنګه دی چي د کواوردینات له سرچینی تیریږي او د S او P څخه تیریدونکی کرښه باندې ولاړه کرښه وي؟
ځواب : د غوځښکي کواوردینات د لاندې برابرونونو سیستم څخه لاس ته راځي
2x-y=1
3x+2y=5
یعنی: xS=1 , yS=1
د S او P ټکو ترمنځ واټن له ( ۱۶ . ۶ ) څخه لاس ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$d=\sqrt{(1-6)+(1-13)^2}=13$$

د ( ۱۶ . ۳ ) له مخی د کرښي برابرونونه چی له S او P تیریږي دي

$(y-1)/(x-1)=(13-1)/(6-1) \Leftrightarrow y=(12/5)x-7/5$

( جګوالی: $m = 12 / 5$ )

له S او P تګو تیریدونکی کرښه باندې د ولاړې کرښي میلان

$m2 = -1/m = -5/12$

د ( $P0\ (0,0)$ څخه تیریدونکی کرښه د m2 میلان سره د ( ۱۶ . ۱ ) له مخی لاندې برابرون لري

$y-0=-(5/12)(x-0) \Leftrightarrow y=-(5/12)x$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶ . ۷ تمرینونه

۱ – د هغو کرښو مساوات و ټاکئ، کومې چې له $P_1$ ټکي تیریږي او د x–محور سره کونج ∝ جوړوي

a ) $P_1(2,-3)$ , ∝ = 30°,  b) $P_1(-3,2)$ ∝ = 45°

c ) $P_1(-1,-4)$, ∝ = 120° ,  d) $P_1(4,4)$ , ∝ = 0°

